روح کائنات صلی اللہ علیہ وسلم

(دوئمه حصه)

مصنف

حکیم مولانا ظفیرگل خادم نوری سیفی

کپموزنگ .. ابوصدیق قاری حبیب اللّٰه حبیب

میلاوید پته: مکتبة الخادمیه

انقلاب روڈ محله غریب آباد سوړیزئی پایان

ټول حقوق د مصنف په حق کښې محفوظ دی

کتاب نوم : روح کائنات ﷺ (دویمه حصه)
مصنف : فخرا هلسنت وجماعت فخرالشعراء ابوسعید
مولانا ظفرګل خادم صیب (نوری سیفی)
تعداد : ۱۰۰۰
هدیه ۱۰۰
کمپوزنګ : ابو صدیق قاری حبیب الله حبیب
میلاویدو پته : مکتبة الخادمیه
انقلاب روډ محله غریب آباد سوریزئی پایان
نزدِ دارالعلوم نوریه سیفیه پښور

For More Books
Click On Ghulam
Safdar
Muhammadi Saifi

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

رباعی (۱)

چه حضورؐ دنیاته راغے رنړائی شوه
پرے خوشحاله د اللّٰه پاك خدائی شوه
بتان درے سوه شپیتهٔ نسکورګزار شول
ترے د ډیروخوش قسمتو جدائی شوه
د صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ علیؓ سینو کښے
راپیدا دکومے لوری صفائی شوه
د تمام جهان بادشاه ئے ترینه جوړکړو
چه بلالؓ ته ملاؤ دغه ګدائی شوه
ابوجهل که سردار وؤ د قُریشو
د حضورؐ په دښمنئ رسوائی شوه
زمکه شومره بختوره د حجاز ده
معطره په نسیم صبائی شوه
ظفرګل خادمه شکرد مولیٰ کړه
چه نصیب دِدَ باچاصیب زیبائی شوه

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲) رنړا شوے یا نبیؐ

کـفـرلــه رنـړاشــوے ، یــانبــیؐ
کـلــه چـۀ پیدا شوے ، یـارسول اللّٰهؐ

میاشت وه د ربیع الاول ، شوے تشریف فرما کله
غیــږد امــنــے بـی بـی ، اوکـړلــه ځلا کـلــه
نــمــرد سپیــن صبــا شــوے ، یــانبــیؐ

روزړل شیـطان لـعـین ، ستـاسوپه راتلوباندے
شولـے فرشتـے شروع ، دوئی ته په حملو باندے
حــورے پــه خــنــدا شــوے ، یــانبــیؐ

دشتـو دمـکـے بـانـدے ، خـورشـو د بهـار خادر
زیـری پـه هـرلوری شول ، راغـے د جهـان رهبر
بــس سیــنــے صـفـا شـوے ، یــانبــیؐ

دیـن دِ داسلام راوړو، خلـقـو کښے ایمان راغے
تـاسو تـه دخپـل رب نـه ،پاك كتاب قرآن راغے
کــل تیــارے پـــه شــا شــوے ، یــانبــیؐ

ظلم وستم ختم شو، هرخوا شو نظام صحیح
هر مشوش زړهٔ ته دِ، اوبخهٔ آرام صحیح
نائبِ مولیٰ شوے، یا نبیؐ

ختم شول باطل خدیان، خلق شو دتوحید قائل
شول په رسالت خائسته، د قرآن مجید قائل
ژبے په ثنا شوے، یا نبیؐ

وائی ظفر گل خادم، راغلے په جهان رحمت
ستاسو په نظرِ کرم، شی به مو خائسته قیامت
که شفیع څما شوے، یا نبیؐ

۞۞۞۞۞۞۞

نعت شریف (۳) صَلِّ علیٰ محفل

دادے دَپاك محمد مصطفیٰ صلِ علیٰ محفل
ددادے دسرورکونین حبیب کبریا محفل

وایه صل علی، صل علی، صل علی هردم
څکه چه دادے ددونو جهان د راهنما محفل

فرشتے عالم بالا کښے وائی داسے په مسکا

راځئ چه ځونن دے دبنکلی احمدمجتبیٰ محفل

دچالـه رویـه چـه دا دواړه جهانونـه دی پیدا

دادے د هغـه مصباح الظلم خیرالوریٰ محفل

دچاچه رب کړے صفت دے په یٰسین اوپه طٰهٰ

دادے دهغـه شمـس الضحیٰ صدرالعلیٰ محفل

مومنه راشه درحمت ګلونه دلته شی موندے

ځکـه چـه دادے د شاهِ والاکهت الوریٰ محفل

غـواړه خادمـه ظفرګلـه پـه خاطر دپاك رسولؐ

لـه رب نه عفوه ځکه دادے نن ډیربے بها محفل

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (٤) جهان اوځلیدو

مـحبـوبـه پـه راتـلودِ تول جهان اوځلیدو

الله چـه وۀدرکـړے هـغـه شان اوځلیدو

وے نورخوپه جامه کښے دانسان تشریف فرماشوے

انسـان چـه دِانسـان کـړو نـوانسـان اوځلیـدو

یـو لاکـه څـلیـریشـت زره وۀ ګـلان دنبوت

چه تاسو وربنکاره شوئی گلستان اوځلیدو
دبنکلی انجمن دستارو رنړاشوه تته
چه نمرد رسالت دَ په اسمان اوځلیدو
چه ستاسو په خدمت باندے مامورشوله آمده
جبریلؑ په فرشتو کښے درحمٰن اوځلیدو
مکان نه چۀ روان شوے لامکان ته لاړے تیرشوے
مکان خوځلنده وۀ لامکان اوځلیدو
پنځوس زره لری چه خلفاء پدے زمان کښے
سلطان الاولیاء سیف الرحمنؒ اوځلیدو
خادم ظفرگل وائی دبا چا صیب برکت دے
دشعرفن مِ لعل د بدخشان اوځلیدو

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۵) جانان دے جانان

دبرکاتو په شیبوشیبو باران دے
جوړ میلاد چه دجانان دے جانان
میاشت دربیع الاول راله

مبارکی ورکړئ هر چا له
تشریف راوړے دے کښے پاك نبی سلطان دے
ابولهب ته په کښے خیر
دے رسیدلے روره ډیر
دپیر په ورځے له عذاب نه په امان دے
چه کافر اخلی برکت
لړ سوچ پکار دے دا ساعت
برکت به اخلی خامخا چه مسلمان دے
ورانه مانړئ د کسریٰ شوله
اور دفارس مړ شو په خپله
خفه په دغه ورځ زیات تولو نه شیطان دے
شیطان په سر خاورے نوستلے
ورته خپل قوم وے چه داولے
شیطان وئیلے بس دے نورعمرم ګران دے
راغے د دوؤ کونو سردار
بتان به مات کړی وار په وار

درب حبیب دے هم ورکړے ئے لوئے شان دے
حضورٌ نعمت دپاك الله دے
په نعمتونو کښے اعلیٰ دے
راوړے مونږ له ئے دپاك الله قرآن دے
واړه نبیان درب دوستان دی
ټول په محبوبﷺ عاشقان دی
هغه نازبین دے چه میلمه لامکان دے
زه ظفر کل خادم مسرور ئیم
حاضر میلاد کښے دحضورٌ ئیم
صفت د دوئ م په قلم اوپه زبان دے

۞۞۞۞۞۞۞

نعت شریف (٦) میاشت دپسرلی ده

میاشت دپسرلی ده په خندا کښے سره ګلونودی
ښکلی دالله محبوب راوړی تشریفونه دی
احسان دلوری د مولیٰ شو
ښکلے فرزند د عبداللهؓ شو

هم دامنے بی بی په کور کښے بهارونه دی
که فرشتے وے که حورانے
حواء مریم نورے بیبیانے
نن دامنے خواله راد رومی صد شکرونه دی
رضوان راغلے له جنته
جبریل امین راد رومی خکته
شکر دے په کوردعزازیل باندے ویرونه دی
نسکور محل ئے د کسریٰ کړو
بیت ئے بتانونه صفا کړو
اوس پکښے همیش له دالله عبادتونه دی
رحمت د لوری د سبحان دے
امن د زمکے او اسمان دے
هر طرف ته گوره دکرمئے بارانونه دی
ختم ئے کړو د کفر زور
شروع شو پاك نبی دُوَر
اوس پرے رانازل د رب د لوری ایاتونه دی

د رب د لوری نه انعام
خلقو ته ئے اوخودو اسلام
ځان سره ئے راوړی بے حسابه برکتونه دی
د نعمتونو لوئے نعمت دے
د پاك رسول م ولادت دے
ډیر خوشحال حجر شجر هم زمکے آسمانونه دی
د ولادت په وخت کښے روره
په پاکه ژبه خۀ په زوره
غوښتی ئے اُمت له د رب د رکښے بخششونه دی
رونړو دربار کښے د جانان
د پیر خواجه سیف الرحمنؒ
جشن عید میلاد مناووی د رب حمدونه دی
زه ظفر ګل په دوئ شیدائیم
دوئ په مدحه کښے لګیا ئیم
داد دوئ نظر دے لعل مرجان ځماشعرونه دی

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۷) دوست دلم یزل ئے تهٔ

ګله په ګلونو کښے اصلي دګلاب ګل ئے تهٔ
دوست د لم یزل ئے ته،یانبي سرداره

ګله په چمن کښے ګلاب تانه خوشبوئي اخلي
شمس وقمر ستوري ټول لتانه روشنائي اخلي
مخکښے دهر څیزنه لکه ستورے ځلیدلے تهٔ
تانه په زرګونو کاله روستو دے جبریلؑ پیدا
هرڅهٔ نه اول وے په فرمان درب جلیل پیدا
ځلنده په میاشت کښے خاص دربیع الاول ئے تهٔ

کفروؤ تورتم وؤ جهالت وؤ تاریکي هرخوا
تاسو چه تشریف راوړونو شوه مبارکي هرخوا
درے ورځے جبریلؑ ټوله دنیا کښے ګرځولے تهٔ
نُوره بشري لباس کښے لاړلے د نُورسره
شوے په لامکان کښے ملاقي درب غفورسره
غم درسره وؤ دامُت رب ته ژړیدلے تهٔ
نشته په دُنیا کښے داسے ژبه چهٔ تا اوستائي

نشتـه هیڅوك بے له پاکه ربه چۀ تا اوستائی
دلبـر وآقـا د زړګـی سـر دظـفرګـل ئـے تـۀ

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۸) زلزل زل

راغـے ستا راتلوسره کفرباندے زل زل زل
ژاړی به شیطان په غم ترقیامته تل تل تل
اوژړل شیطان یودم، زیات شوپرے خفګان یودم
خپـل لښـکر ته دے لعین ، اوسپړدو زبان یودم
اورم پـه زړګـی بانـدے شـولـه غمـه بل بل بل
سیـدالابـرار راغــے، دوســت د کـردیګـار راغـے
وار دلـمســے تیرمِ شو،اوس دحضرت وار راغـے
نن هرمسلمان ته څۀ شوم نظرکښے غل غل غل
راغـے چــه ختــم الرســل ، وران شـو دکسـریٰ مـحـل
شکردے چه زیات شولو، هرځائے کښے ددین محفل
زړۀ شـو دابـلیـــس روره غـم پـــه ژرنـده دَل دَل دَل
ظــلـم جهــالــت لاړو، هــر یـو مـصیبـت لاړو

شـولـوبیـت اللہ صـفـا، شرك ترے ملامت لاړو
پل باندے محبوبه ستاکیخودهرچا پل پل پل
سوال کړی ظفرگل مدام ، داسے کړی وئیل مدام
ښـکـلـی حـرمیـنو کبنـے ،غواړی اوسیدل مدام
سـوال کـوی پـه دررب بـو م ځه ځو ځل ځل ځل

۞۞۞۞۞۞۞

نعت شریف (۹) شب ولادت

یـاالله نـن خـو مـره د عـزت شپـه ده
دام دمــحبــوب دولادت شپـــه ده
ډیــرے شپـے راغـلـی دی دنیـا بـاندے
لیــکــن دا دډیــرلـوئـے بـرکـت شپــه ده
حــورے د جــنــت هـم فـرشـت راغـلــے
وائــی پــه مـکــه کبنـے د جنـت شپـه ده
ستـوری لـه اسـمـانه نه خکته شوی دی
جـوړئـے چـراغـان کـړو درحمت شپـه ده
زیــری شــول چــه ســرورِ کـونـیـن راځـی

دا خود تقسیم دهر نعمت شپه ده
کړی به بیت الله دهریو بُت نه پاك
داسے بے بها دسعادت شپه ده
ونے ،ځناور، پیریان ، فرشتګان
حمد درب وئی د عبادت شپه ده
واړه کافران او شیطانان یهود
ګرځی وار خطا پرے دهیبت شپه ده
ورکے شوے تیارے جهان روښانه شو
راوخت د افتاب نبوت شپه ده
وران شولو محل دشاه کسریٰ پکښے
هم دمجوسیانو دذلت شپه ده
اور د فارس مړ شو بتان پریوتل
ډکه تعجب نه دحیرت شپه ده
غیرِ د آمنے او حلیمے بی بی
کړی به ځلنده د محبت شپه ده
ته هم ظفرګل خادمه ملا تړه

نشتــه پـکښــې شك د مغفرت شپـه ده

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۰) بے بها

شپـــه دمیـــلاد مـــصـــطـفـــیٰ ؐ ده
ځکـه وریـږی د اللّٰه نـه رحمتونه ،بے بها

داشپـــه چـــۀ تیــره شــوه ســحــر شــو
تشـــریف فـــرمـــا نبـــیؐ ســرور شـــو
پـــه کـــل جهـــان رنـــړا رنـــړا ده

میـــاشـــت د ربیـــع ورځ وه دپیـــر
شـــو جـــلـــوه گـــر بـــدرِ مـــنیـــر
شـــغـــلـــه خوره پـــه بیـــت اللّٰه ده

تشـــریف چـــه راوړلـــو حـــضـــورؐ
شـــوپـــه ســجـــده نـوٌرعـلـــیٰ نُـور
پـــه خُـلـــه ئـــے امتـــی صـدا ده

لاړو مـــحـــل وران د کســـریٰ شـــو
اور د فـــارس مـــړشـــو تبـــاه شـــو

هر یو کافر کره غوغا ده
که فرشتے دی که حورانے
بی بی سارا مریمؓ بیبیانے
که آسیهؓ ده که حواؓ ده

د آمنے کور کښے بهار شو
جوړ ے اوۀ بخت ئے بیدار شو
څه خوشبوداره شان فضا ده

چاپیر دستورو چراغان دے
جاری د خدائے دَ نور باران دے
د هر مارغۀ په خُله ثنا ده

دعا قبوله د خلیلؑ شوه
خونه تباه د عزازیل شوه
خاورے په سر خُله په ژړا ده

د حلیمےؓ غیرت ته روان دے
خوشحال ئے واړه خاندان دے
مور د محبوبِ کبریا ده

داخــــو صـــــادق او هـــم امیـــن دے
هـــم رحـــمة الـــلـعـــالـمیـن دے
خــوشــخبــری ښــکلــے د عیســیٰؑ ده
زهٔ ظــفـــر کـــل خـــادم بیـــمـــارئـم
ســـرنــــه تـــرخپـــوډیـــر گـنهـگـــارئـم
دعـــــا دپیـــر نـــورعـــلـــی شـــاهؒ ده

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۱) میلاد مصطفیٰ دے

میاشت ربیع الاول ده ملك هرخوا رنړا رنړا دے
میلادِ مـصـطـفیٰ ﷺ دے ، میلادِ مصطفیٰ ﷺ دے
هــــرخـــوا بهـــــاربهـــــار شــــو
روښـــــان د مـــکــــے ښــــار شـــو
آمـــــد چـــــــه د ســــــردار شــــو
رضـوان په تماشه باندے دکور دعبد اللهؓ دے
راښــــکتــــــه شـــولـــــو ستـــــوری
دے سپیـــــن رُخســــارتـــــــه گـــوری

جـــولـــئ کنبـــے بـــــه دمـــوروی
دُرِّیتـم دخپـلـے مـور دخوږ زړګـی دوا دے
شــــول پــــــړمـــــخـــــے بتـــــان
ذلیـــــل شــــو کــــــافــــــران
ژړا اوکـــــــــــړه شیـــــطـــــــــان
تیارے دکـفـردرومی خپلے ډلے ته ګویا دے
راغـــــلـــــے فـــــرشتـــــے دی
انــــــوار چپــــــے چپـــــے دی
حـــمـــدونــــه ئـــے پـــــه خُـلـــے دی
مـحل ثـوارلس چتیزراپویوتلے دکسرێ دے
د زور کـــــــــــالـــــــــو اور
شـــــو مــــــــړوؤ دچـــــا زور
شـــول زیـــــری کـــــورپــــــه کــــور
بُتـان بـه ترے نه لرے شی خوشحاله بیت اللّٰه دے
بـــختـــوره بنـــکـــلـــے شپــــه ده
راغــــلـــــــے آسیـــــــــهؓ ده

ساراؓ بی بی خائسته ده
آمد د حضورؐ کورته دَ مریَمؓ بی بی حوا دے

راغلے دی بیبیانے
مکے ته دی روانے
په زړه باندے شادانے
محبوب م صرف کوره حلیمےؓ ته په مسکا دے

ځی غیږ د حلیمے ته
د سعد قبیلے ته
زر رسی قافلے ته
د ټولو نه وؤ روستو اوس د ټولو نه اولیٰ دے

خپل کورته شوه قریبه
حالت نه وه غریبه
خوشحال مره خوش نصیبه
لړوخت کښے شوه مالداره برکت د مجتبیٰؐ دے

خادم ظفر ګل ستائی
محبوبِ کبریائی

پـــــه صــــدق ســـــره وائـــــی
دا تـول نـظرپـه مـا دپیر سیدنورعلی شاهؓ دے
میلادِ مصطفیٰ ؐ دے ، میلادِ مصطفیٰ ؐ دے

❁❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۲) آمدِمصطفیٰ ﷺ

کـړی ئــے لـه مـونـږه سره څـو مره احسانونه دی
دے میاشت کښے محبوب درب راوړی تشریفونه دی
دامیـاشــت دربیـع الاول نـوم بـاندے یـادیـږی
ډیـرډیـررحـمتـونــه او انـوار پـکښـے وریـږی
ډیـرے خوشحالئ دی هر طرف ته بهارونه دی
موربی بی ته خوب کښـے ئے څوڅل پیغمبران راغلل
دغــه مبـارك الـفـاظ د دوئ پــه خـوږ زبـان راغـلـل
دوسـت درب لـرے درتــه زمــونـږ بشـارتـونــه دی
بـلـے فـرشتـوکـړے قـمقمـے دعبد اللّٰهؓ پـه کور
اودرولـه جبریلؑ ښکلـے جهنډا دپاك اللّٰه په کور
ډیـر مـلائیـکان راغلل پـه خولوئـے درودونه دی

ځـوارلـس چتـه لویه مانړئی شوله د کسرئٰ ګزار
اوردفارس مړکړودغه وخت کښـے پاك غنی غفار
دا خـاطـر د دوئ دے رب ورکړی بـرکتـونـه دی

وخـت د ولادت کښــے ئـے امت دپاره اوژړل
رب د دوئ لــه رویــه ورتــه ټول اُمتیـان اوبخل
ګـران د دوئ لـه مخه پاك لله ته ډیر مخونه دی

عبـدالـمطلب خدمت کوؤ دخدائے دکورخلقه
ګـوری چـه بتـان پـرتول پړمخـے نسکورخلقه
وتـی دشیـطـان د خُلـے نه کریکـے اوازونه دی

شـی تیـارے دکـفـر پـه بـدلـه پـه رنړا بـاندے
اوس بـه فـکـراوشـی د یتیـم سلګوژړا باندے
دوئ سره په زړۀ کښـے د اُمت پوره فکرونه دی

ستـورے داقبـال د آمـنـےؓ بـی بی بلند شولو
داسـے چــه امـام الانبیـاءؑ د دوئ فـرزند شولو
لوئـے نوم ئـے پیدا کړلوپه دے درب شکرونه دی

بخت دحلیمےؓ بی بی کړی فخردجهان په بخت

ځی دَدِجولئ ته خوشحالی کړی دخپل ځان په بخت
اینبی دَدِ کور کښے محبوب ښکلی قدمونه دی

وینځه چه په زیری کښے آزاده کړه ابولهب
اوګوره چۀ څنګه معامله ورسره کاندی رب
دۀ باندے دپیرپه ورځ کم شوی عذابونه دی

رب ورله ورکړے خائسته وؤ نورانی بدن
ډیرئے ارمانی کړل چه ئے اوکړی دسپین مخ دیدن
سورے دبدن نۀ وؤ ګواه پرے کتابونه دی

زۀ ظفِرګل فخرکړم د دوئ په هرصفت باندے
طمع ئے لرمه په محشرکښے شفاعت باندے
خدائے به اجرورکړی چه ماکړی صفتونه دی

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۳) سلطان الانبیاء والرسل ﷺ

درب پــه درحبیبــهٔ ، خیرالبشرٌحبیبهٔ
غــوره څــوك نشتــه بے لتــانــه
پــه انبیــاؤکښے سـلـطـانـه

وه ښکلے ورځ د ګُل، تشریف چه راړولو تا
میاشت ربیع الاول ، تشریف چه راړولو تا
اوشو کرم له پاك سبحانه

نورٌعلیٰ نور شو پیدا ، نوردِ جهان کښے شو خور
نشته ثانی چرته ستا، نُوردِ جهان کښے شو خور
دنیا شوه ستا په مخ روښانه

یولاکه څلریشت زره ، که دی نبیان مرسلان
ئے په دِ تهولو غوره ،که دی نبیان مرسلان
رحمت راغلے ئے الله نه

شوه مدینه روښانه ، ستا په جلوؤ سر وره
عرب عجم بے ستانه ، ستاپه جلوؤ سروره
په خپل اُمت ئے مهربانه

ځی خوشبوئی هرزمان ، دهریو یار نه ستا
صدیقؓ اکبر نه قربان ، دهریو یارنه ستا
هم له عمرؓ، علیؓ ، عثمانهؓ

درب عظیم کتاب ، احسان پتا اوشولو

نازل پتا کړو وهاب ، احسان پتا اوشولو
زار شمه ستاله پاك قرآنه
زۀ ظفر ګل یادیږم ، هزارخوانئ کلی کښے
عشق کښے دِ تل ژړیږم ، هزار خوانئ کلی کښے
زاریږم پیرنورعلی شاهؒ نه
په انبیاؤ کښے سلطانه

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (١٤) ولادت محبوب ﷺ

شمعے د نُور بلے شوے رڼا جهان شو
پیدا چه کله نبیؐ آخرزمان شو
شلم تاریخ د اپریل ورځ وه د پیر عجیبه
څلوربجے د سحرراغے بشیرؐ عجیبه
باطل خدایان ختم شو ښکاره سبحان شو
تورے تیارے د ظلم شوے په رڼا بدلے
همه خوشئ د کفرشوے په ژړا بدلے
دغم خنجرپه زړۀ کښے ښخ دشیطان شو

په هاشمئ کورنئ درب انوار وریږی
دآمنے غیږه کښے ښکلے رخسار ځلیږی
دپیرزونے زیرے په هراسمان شو
چابه کړے نمرته سجدے ثوك دبتانو تابع
چاخدائے شجر ګنړلود شیطانانو تابع
چابه کړے اورته سجدے خوښ ئے نیران شو
دمایوسئ وختونه تیرپه صدیقؓ او عمرؓ
دتاریکئ وختونه تیرپه عثمانؓ اوحیدرؓ
څوك له حبشوراغے سر په اذان شو
دنبوت په شمع تول پتنګان اوسُوَل
څکه نهرے تیرئ مخ دجانان اوسُوَل
د خوشحالئ ورځے دی لرے خفګان شو
خدائے پاك احد اومنئ آقاوعظونه کوی
ماپیغمبرؐاومنئ دا آوازونه کوی
مخ سورپه سرووینو کښے دجانانؐ شو
د ولات موقع کښے اُمت اُمت یادوی

دزنکدن سختو کښې ئې مصیبت یادوی
هیروی نه که داخل په لامکان شو
اے ظفرګل خادمه زار شه له داسې یاره
چه په قیامت کښې به هم سوال کوی ستا دپاره
ژاړی ځمونږ دپاره هیرئې خپل ځان شو

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۵) بختوردمدینې

هرګل شو په خندا راغې دلبردمدینې
پیدا شو په مکه کښې بختور دمدینې
دیدن له ئې عالمه قدسیان فوجونه راغلل
هم ستوری داسمان نورانی موجونه راغلل
خوشحاله فرشتې شوے په سرور دمدینې
څلورکُنجه دنیا کښې هرخوارنړا رنړا شوه
جلوه چه په جهان کښې ښکاره د مصطفیٰ شوه
هرځائې دمخ په نور شو منور دمدینې
په شپه د دوشنبې کښې بتان شو رانسکور

صبا دا زیرے اوشو نعرے شوے لورپه لور
هیچاته معلوم نه وؤ دلاور دمدینے
خاتم دانبیاؤ رحمت د عالمینؐ
دنیاته تشریف راوړو دپاك رب نازبین
شی دین به مکمل ئے په سفر دمدینے
نصیب دخدیجےؓ کښے حضرت اورسیدلو
یو لعل دبدخشان ئے جولئ کښے پریوتلو
نصیب ئے شو عالمه پیغمبرؐ دمدینے
خادم زه ظفرګل وے روضه کښے دجانان
قسم دے په زړګی م بل نشته دے ارمان
کوخو کښے ګرځیدلے درپه در دمدینے

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱٦) صادق الامین ﷺ

په دے دُنیا چه راغے صادق الامینه
ملائکان دمخ کتوله دِرا ځینه
دآمنےؓ په کور وریږی رحمتونه

تــــه چـــه پیـــدا کــړے رب جـلـیـل
پـــــه ژړا ســــرشـــو عـــزازیـــل
شیـطـان لــه ډیـره غـمـه مـخ سرتـکوینه
جبــرائیــل ســر پـــه مـــرحبــا شــو
فـــــرزنــــد پیــدا د عبـــداللهؓ شـــو
حــورانـــے تــور اوربــل د نـــازه خـوریـنــه
ګــلــــه دګــل پـــه ورځ پیــدا شــوے
پـــه زبـــه اُمتـــی ګـــویــا شــوے
دسپیـن بشـر شغـلـے دِهـرطرف تـه ځینه
سیـــاه زلـــفـــان ، سیـــاه چشـــمـــان
سیـــــاه آبـــرو ، سیـــاه مـــژګــــان
راز دخـالـق لــه پـورتـه لاړے لــه زمیـنـه
ځـم ظـفِـرګـل سـتــرګـے پــه نـم کـښـے
درود ســـلام وائـــم پتــا درب نــازبیــنــه
دامـنـــے پـــه کـور وریـرِی رحمتـونـه

❁❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۷) نبی خیرالانام ﷺ

دا پــــه مــخــلــوق درب انــعـــام شــولــو
پیـــدا نبـــیؐ خیـــرالانـــــام شـــولـــو

میـاشـت ربیـع الاول ، ورځ وه خائسته دګُل
خــورکـــائـنـــاتـــوکښـــے پیـــغـــام شـولـو

څادردخـدائـے دکـرم ، خـورشوپه واړه عالم
شیـــطـــان خـــفـــه اوهـــم ئـــے قـــام شـــولـــو

دے بیت الله دخدائے کور، بتان پکښے شونسکور
غـــالـــب شـــو حـــق بـــاطــل نـــاکـــام شـــولـــو

لونړه جوندئ خخول ، نورډیرر سمونه کول
ختــــم شـــو ځـــلـــنـــده اســـلام شـــولـــو

غـــارِحـــرا تـــه جبـــریـــلؑ ، راغـــے تـــر خوا دجهل
نـــازل لـــــه رب نــــه پـــرے کـــلام شـــولـــو

اوشـو اعـــلان رســـول ، صـــحابهؤ دین کړو قبول
زیـــــات ئـــــے بیشـــکـــــه احتـــرام شـــولـــو

دنبـــوت دهــلال ، یـــولســـم چـــۀ شـــوکـــال

دا نبیاءُ لوئے امام شولو

له منتهیٰ نه بره ، لاړو له عرش له بره

په لامکان کښے ئے قیام شولو

هم ئے نعیم اولیدو، هم ئے جحیم اولیدو

په هر مقام ئے مونږ ته فام شولو

له رب نه سوال کومه ،خاص دوصال کومه

هجر ملګرے م مدام شولو

شم ظفرِګل قربانی ، له خپل مرشد جیلانیؒ

که ئے نظر په خپل غلام شولو

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۸) محفلِ میلاددے

میاشت ربیع الاول ده محفل میلاد دے

ډیرزیات خوشحاله ئیمه زړګے م ښاددے

دادحضورؐ دراتلو ښکلے خوشحالئ کښے جوړ دے

مسلمانانورونړو ښومره په سیالئ کښے جوړدے

زړۀ م دغه محبت باندے آباد دے

حضورؐ چه تشریف فرما بتان نسکور پریوتل
په رضا خپله نۀ وؤ بس دچاپه زور پریوتل
شیطان خفه دے چه وتونکے ئے بنیاد دے

دعبدالله په کور رحمتِ الهی شو نازل
دامنےؓ او حلیمےؓ غیږ کښے نبی شو نازل
نوم مبارك ئے په دُنیا کښے ځکه یاد دے

شلم تاریخ وؤ اپریل خوورځ دګُل وه روره
خوش قسمتی د چغیدوپرے د بلبل وه روره
مکه خندیګی ختمیدونکے ترے فساد دے

ورته اووایه چۀ دا کارپه رور ولئ اوکړی
د خدائے په فضل او رحمت دِ خوشحالئ اوکړی
دا چه قرآن کښے د الله تعالیٰ ارشاد دے

شکردے ربه زړۀ رابښکونکے خۀ هو راغله
د عیسیٰؑ زیرے دخلیلؑ هغه دعا راغله
دلته دعا نه د خلیلؑ حضور مراد دے

دا دحضور مینه ده لوړ چۀ ئے مقام ورکړو

دا ورلــه رب پــه ډیـره سیـنـه احترام ورکړو
کـه صحابی دے که څوك قطب که اوتاد دے
مـونـږ لـه الله‌پاك بـه ثـواب راکئ مولود مناوؤ
د حـضـور ذات بـانـدے سلام سره درود منـاوؤ
دا اهــل ســنــت وجـمـاعـت اعـتـمــاد دے
زۀ ظفرګل خـادم دپیـر نـورعلی شاه مرید یٔم
هم د خـواجـه سیف الـرحمٰنؒ ولی الله مرید یٔم
دښمـن د ځغـو یٔم چۀ دوئ سره ئے عناد دے

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۹) ولادت باسعادت

یــارســول للهؐ ځــمــا ، یــاحبیــب الله ځــمـا
رحـم پـه مـخـلوق باندے د پال رب العزت اوشو
کــلــه چــه خبــر ، خبـر ستــا د ولادت اوشـو
درے سوه شپیتۀ بتان ګزار شو بیت الله کښے
راوډ رو تشـریف چۀ کـله کور د عبد اللهؓ کښے
سـرشـولـوشیطان لعین دستی ویراو ژړا کښے

غټ دبم ګزار په دے بدبخت اوبے غیرت اوشو
اور دفارس مړشولو ماڼۍ د کسرئ ورانه شوه
قحط سالی لاړه علاقه ټوله ودانه شوه
میاشت د پسرلی په تا خائسته آخرزمانه شوه
ټولو کافرانو ته اظهارستا دقوت اوشو
ګُلو غوټۍ پرانستے چمن کښے اداګانے شوے
ختمه د یتیم ژړا شوه نورے خندګانے شوے
لاړلے تیارے د کفر هر خوا رنړګانے شوے
دا ورود مسعود چه دالله دپاك رحمت اوشو
چغے شوے هرخواته چۀ انیس الغربین راغے
سر شول مرادونه چه مراد المشتاقین راغے
لونړه خخُول بس شو رحمة اللعالمین راغے
شاړے شوے اٗ بادے چه باران دبرکت اوشو
څومره برکتی لاس وۀ چه راغے دمظلوم په سر
سورے درحمت شولو دلوئے اودمعصوم په سر
رائے وړل د خدائے نه معارف اوډیر علوم په سر

وړئے کړو کمال چه ئے ایمان سره صحبت اوشو
زیرے چه عیسیٰ ؑ کړے دکوم محبوب جمیل وؤ
داسے ارمانی ئے هرنبی درب جلیل وؤ
غوښتے په دعاګښے چه دپاك رب نه خلیل وؤ
چکر دے الحمد لله اوس قبولیت اوشو
شولوئے په خدمت اقدس کښے جبرائیل حاضر
دا رنګِ رضوان دجنت شولو تعجیل حاضر
هم شول په زرګونو ملائیك درب جلیل حاضر
هم ئے په لاسونود حورانو ډیر خدمت اوشو
بخت وؤ چه بیدار شولو دبی بی اٰمنے ښکلے
هم د آزادئ نصیب شوېښ د ثُویبے ښکلے
غیرِ کښے جلوه ګر شولو محبوب د حلیمےؓ ښکلے
لاس باندے ددِے پاکے بی بی ئے رضاعت اوشو
وائی امنه بی بی بچےِ م چه پیدا شولو
سرپه سجده درکښے د الله غنی مولیٰ شولو
رب هب لی امتی وینا باندے ګویا شولو

سمدستی دپاك لله په درکښے اجابت اوشو

ولے خادم ظفرؔکل وصف دنبیؐ نه کړی

ولے احترام به د الله دهر ولی نه کړی

هم به ولے فخرپه لقب نوری سیفی نه کړی

ماته ئے دحدنه زیات نظرد مرحمت اوشو

کله چه خبر ،خبر ستا د ولادت اوشو

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۰) مهربان راغلے دے

دخدائے عظیم رحمت په مسلمان راغلے دے

جانان راغلے دے ،مهربان راغلے دے

پدے میاشت کښے سردارِدوجهان راغلے دے

دے میاشت ته نوم اخلی خاص د ربیع الاول

مخلوق باندے انعام اوکړو پدے کښے لم یزل

مُحسنِ انسانیت فیض رسان راغلے دے

هر خوا بهاربهار شو غوټۍ اوسپړدے ګلونو

شفا ورته ملاؤ کړه دے مرهم د پرهرونو

هیڅ شك نشته دخوږ زړګی درمان راغلے دے
مانړئی دکسرئ څوارلس چته اورنه شوه یودم
یهودونصارا وؤ باندے جوړ شولو ماتم
دخدائے دلوری قهرپه شیطان راغلے دے
چه زرکالونه بل وؤ په فارس دننه اور
شومړ دسترګو رپ کښے چه وؤدغه دچا زور
نبی ﷺ په دُنیا لوئے پهلوان راغلے دے
تمیزبه دحلالو دحرامو راپید کړی
دکفر شرك اوظلم نه به اوس دُنیا صفاکړی
ثانی ئے نشته داسے حکمران راغلے دے
وحشی خلقو کښے رسائے وستو څومره سړیتوب
بزدله خلق ئے واړه مشرف کړل په نرتوب
داڅومره دلاور مردِ میدان راغلے دے
خواجه سیف الرحمٰن په اولیاء کښے سردار
هرکال مناووی میلاد دسیدلابرار
دا مونږ له درحمت عظیم باران راغلے دے

دا نن چه په لاهور فقیر اباد کښې جوړ محفل دے
دامیلادِ رسولؐ دے هم دمینے چراغ بل دے
دښکلو سالکانو لوئے کاروان راغلے دے
وجدونه دی جزبے ت وجه ګانے ولولے دی
دا ځکه چه راجمع ټول یاران دسلسلے دی
وړوکښے دے که لوئے دے اوکه ځوان راغلے دے
خادم ظفرِ ګل وائی چه مولیٰ اوکړو کرم
دعرش دپاسه ایښے دے هغے محبوب قدم
معراج کښے سفر ترلامکان راغلے دے

۞۞۞۞۞۞۞

نعت شریف (۲۱) دمصطفیٰؐ کلے

کاش چه وے محبوبه داستاخوږ کلے ځما کلے
یارسول اللهؐ تل مِ په زړه وریږی ستاکلے
دے ښکلی وطن کښے په خړپو سوګر ځیدلے ئے
هم دحلیمےرضؓ بی بی جولئ کښے لوبیدلے ئے
هم پتا قائل وؤ هم دښمن شولو پتا کلے

ٰهغه خلق وؤ چاته چۀ هم صادق آمین وے تۀ
چاته چۀ په خواخلاقو شاه دکل زمین وے تۀ
پاتے په هجرت کړلو هغے خلقو لتاکلے
څوك چۀ دِ روضے لره په‌ژوندباندے درغلی دی
سرپه فریادونومدینے نه واپس تلے دی
هغه خلق ژړیږی دوباره دِ غواړی بیا کلے
کله به وی زۀ غریب چۀ ستا ددرګدا شمه
شومه که ګدا بیابه دټول جهان بادشاه شمه
وائی ظفرګل چۀ خوښ م دے دمصطفیٰ کلے

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۲) آقا غیږکښے واله

حلیمےؓ راشه آقاؐغیږکښے واله
دکُل نبیانو بادشاه غیږکښے واله
تُکړه دزړه آمنےؓ بی بی ده
تۀ ئے د نازپه خندا غیږکښے واله
چۀ جنتونه قربانیږی ترے نه

ډیر دیوسفؑ نه زیبا غیرښکلې واله
بلالؓ چه مخ باندې عاشق دې دچا
راشه هغه مصطفیٰ ﷺ غیرښکلې واله
چهٔ شي طٰهٰ اوپه یٰسین بللې
دغه محبوبؐ دمولیٰ غیرښکلې واله
چه جبرائیلؑ ئې په خدمت کښې کړځي
رور د نازبینې شیما غیرښکلې واله
زمونږه زړونه ورپسې دي بیتاب
ته هغه خپل دلربا غیرښکلې واله
دبدو ستر کو دِ الله اوساتي
ښکل ئې کړه خیرالوریٰ غیرښکلې واله
په محبت وائي خادم ظفرګل
زیرې اعلیٰ د عیسیٰؑ غیرښکلې واله

❁❁❁❁❁❁❁

رباعی (۲۳) نامورحبیبؐ

اې دمکې اومدینې ډیر نامورحبیبهٔ

رخسار خائسته لرے والله چه زيات له نمر حبيبهؐ
بتان راپریوتل نسکور په بیت الله شریف کبنے
دګل په ورځ باندے چۀ تۀ شوے جلوه ګر حبيبهؐ
داخو ځلور ګُټه دُنیا کبنے ستا دمخ جلوے دی
ګنے موجود وؤ له پخوا شمس وقمر حبيبهؐ
شپه دا معراج کبنے شوے امام د مرسلانو ټولو
دا دعزت تاج کړو مولیٰ تاته په سر حبيبهؐ
ترلامکانه پورے لاړے بیا واپس ترے راغلے
د تلوراتلو وخت دِ ډیر زیات وؤ مختصر حبيبهؐ
په لوږو تندو ئے پروا نه وه لتا قربان وؤ
الله درکړے درلـه وؤ داسے لښکر حبيبهؐ
اګر که توروؤ خو دا ستا په مخ عاشق وؤ بلالؓ
دډیرو سپینو نه ئے اوړے دے نمبر حبيبهؐ
چه ستا فرمان ئے په سرسترګو باندے نکړو قبول
خاورے په سرشوے دکسریٰ او دقیصر حبيبهؐ
چه ستا دمخ صفت کولو به حسانؓ او کعبؓ

ورتـــه دِ اوکــړه دعــا ورد کــړه ځــادرحبیبــهٌ

چا چـه داستـا شان کښې ذره بې ادبي کړې ده

مــونــږ دي لیـدلـی سـروهلـی درپـه درحبیبـهٌ

چـه سخته ورځ شي دقیامت نمرنیزه وارشي پکښې

راکـړه پــه ځغــه سـختـه ورځ جام دکوثرحبیبهٌ

زهٔ ظفرګل خادم به خلاص شم له همه سختونه

لاس دکـرم کــه رالــه راکړې په محشر حبیبهٌ

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲٤) سپرلی ته خطاب

سپـرلیه تادخوشحالۍ ښکلي وختونه راوړل

دمـکــې ښارته دِښائسته ښکلي بادونه راوړل

هـره غـنچه کښې ئې خوشبو دجنتونو ښکاری

تــادهــاشـم صیـب قبیلــې تـه سرهٔ ګلونـه راوړل

آسـمان هم ګوته په خُله اودرید تماشې ته حیران

دعبــداللّٰهؓ کــورتــه دِ څــهٔ عـجـب نـازونــه راوړل

پیــریــانــو هـم اوځنــارو یوبل تــه زیری ورکـئ

لرے ظمت شو چۀ د نورِدِ چراغونه راړول

په یو نظرشول د اعلیٰ اعلیٰ مقام خاوندان

تا چارو د حضورته کوم بختونه راړول

د اٰمنےؓ بی بی دلعل نه تول لعلونه شه زار

دا دِ مکے ام القریٰ ته نعمتونه راړول

زۀ چه غړوم سترګے خوبس په دے محبوب ئے غړوم

دمور بی بی خُلے له ئے دغه ارمانونه راړول

په دغه غیږه کوی رشك ددنیا تولے میاندے

تا دَ بی بی حلیمےؓ غیږے ته بختونه راړول

دغه احسان دِ مونږ ترمرګه هیرولے نۀ شو

چه د بلالؓ د خُلے دِ مونږله اذانونه راړول

د ظفِر ګل خادم قسمت دِ کړو بیدار سپرلیه

چه دمحبوب د اٰل دِ ده له خدمتونه راړول

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۵) ربیع الاول راغے

ګُل تشریف فرماشولو په ورځ باندے د ګُل

ربیــــــع الاول راغـــــــــے، ربیـــــــع الاول

(۱)

داخو هغه میاشت ده چۀ محبوب پکښے راغلے وؤ
خپله چۀ وؤ ښکلے ټول جهان ورباندے ښکلے وؤ
دا خو هغــه ستورے دے پـخـوا چۀ ځلیدلے وؤ
خپلــه دوه اویــازره پهیـرے جبریلؑ لیـدلے وؤ
ځــکــه ئــے صفت ظـاهر بـاطـن دے هـم اول

(۲)

ښـار چــۀ دمکــے مـکـرمــے وؤ بختورشولو
کـور د عبـد الله او اُمـنــے پـرے جـلـوه گرشولو
پــورتــه بیـت الله کښے اواز الله اکبر شـولـو
خاورے پـه سـرنولی چۀ ابلیس کله خبر شولو
خپــل لښــکـر تـه وائی راغــے خاتم الـرُسُـل

(۳)

ختمــے ئــے تیارے کړلے چه دا نورالانوار راغــے
کـړه خــزان اوتــړلــه ولـے چــۀ بهـار راغــے

کفر به ذلیل شی داسلام ښکلے مالیار راغے
ښکلے دَ صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ او علیؓ یار راغے
اور به د فارس مړشی دَ زروکالو بل

(٤)

اوس به انقلاب ټوله دنیا کښے راپیدا کړی
ټول بتان به مات کړی بیت اللّٰه به ترے صفاکړی
خړے سینے ټولے به په نور د رب رڼا کړی
اوس به پرے نازل جبریلؑ امین کلام اللّٰه کړی
ختم به شی اوس د یتیمانُوژړیدل

(٥)

زیری ورکول دچا په حق کښے چۀ نبیانو
ښنګه خپل بچی چه پیژندل به یهودیانو
داسے پیژندلو ئے سردار د مرسلانو
بیا هم انکار اوکړو دغه ذات نه مُنکِرانو
ځان ئے تباهئ ته ورګزار کړو مُکمل

(٦)

داغـمـخور محبوب چۀ په دنیا کښے کله شو پیدا
پـروت وۀ پـه سجـده پـه خُـلـه ئے الله اکبـرندا
هم شـروع پـه ژبـه رَبِّ هَـبُ لِیُ اُمَّتِیُ صدا
کړی به راروان وخت کښے باطل دحق نه راجُدا
اوس بـه تـمـامـی غـلـط رسـمـونـه شی بدل

(۸)

مـونـږه لـه پـکاردی چۀ عـمل په پاك قرآن اوکړو
ډیره خـوشـحـالـی په ولادت دخپل جانان اوکړو
ذکـرِ ولادت دهـاشـمی نبیؐ سـلـطـان اوکـړو
ډیرپرے حـفـاظت دعـقیـدے او دایمان اوکړو
جـوړ کـړوپـه آمـد کښے دمحبوب ښکلے محفل

(۹)

یاالهی شـکـردے چۀ مونږ ئے میلادونه کړو
داسے مـحـفـلـونـو کښے دَ دِ کُل صفتونه کړو
هم به آخرت کښے پرے روښانه خپل مخونه کړو
هم بـه پرے حاصل درب دلوری رحمتونه کړو

ستـــائـی بـــه پـــه ژبــه او قـلـم ئـے ظـفـرګـل

۞۞۞۞۞۞۞

نعت شریف (۲٦) الله اکبر

تشـریف دُنیـا تــه راوړو د کـونینـو معتبر
اللّٰهُ اکبـــــــــر ،، اللّٰهُ اکبـــــــــر

دُنیــا کښـــے انــقـلاب راغـــے د دِګُـل دخـاطـره
رنړا ئـے پـه مشرق مغرب هرځائے کښے شوه ظاهره
روښــانـــه ئـے پـــه نـور شـو همـــه واړه بـحــروبـر

دَلــونـــړو قـــاتــلان وؤ بـــس دظلـم انتهــا وه
بُتـان خـانه کعبه کښـے وؤ دَ شرك ډکه فضا وه
غـلـط رسـمـونـه تـول ئـے کړل لا هو په سمندر

دمیــنـــے مــحبـت د رورولئ دور شـروع شـو
هـر غـم اوفـکر لاړ د خوشحالئ دور شروع شو
دخدائے عاشقان کړل ئے دمکے په غرونو سر

خـلوت ئـے اختیارکړے وؤ له خلقوپه حِرا کښے
مشـغـول بـه دشپـے ورځـے وؤ پـه ذکر دمولیٰ کښـے

د وحے ابتداء اوکړه جبریلؑ د نُور په غر
مکه ئے بختوره کړه دفیض ډکه چینه شوه
هجرت ئے ورته اوکړوقدرمنده مدینه شوه
دډیرو برکتونو نه وؤ ډك دغه سفر

اسلام ئے مدینے منورے نه کړلو خور
دعمر دشمنان ئے کړل دیوبل سره رور
بغضونه حسدونه ئے کړل قندوشکر
مسکن ئے دتمام عمردپاره مدینه شوه

رنګینه پرے دبی بی عائشے ښکلے حجره شوه
راځی چه فرشتے ورله په شام اوپه سحر
جنګلے سره لوستلے شی صلوة اوهم سلام
زرګونه خلق همیش دمحبوب مخکښے کړی قیام

هم وائی سلامونه په صدیقؓ او په عمرؓ
خادم ظفرګل وائی چه بیدارئے شی نصیب
الله پاك ورته اوښائی روضه دخپل حبیبؐ
خوځلے ورله لاړم دمرشدپه لوئے نظر

اللهُ اکبـــــر ، اللهُ اکبـــــر ، اللهُ اکبـــــر

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۷) میلاد دپاك رسولؐ

ښائسته ښکلے جوړشوے،په یاد دپاك رسولؐ دے
میلاد دپاك رسولؐ دے،میلاد دپاك رسولؐ دے

محفل د میلاد جوړ دے ، راجمع عاشقان دی
فیضونه برکتونه ، نهرونه دعرفان دی
په داسے محفلونو ، زړهٔ ښاد دپاك رسولؐ دے

نن کیږی دے محفل کښے ، به ذکرِ ولادت
په مینه بیانیږی ، دپاك رسول سیرت
هم ذکرِ معجزات اوجهاد دپاك رسول دے

دپیر په ورځ نیوله ، روژه به گلعزار
تپوس چهٔ ترے نه اوشو، جواب ورکړو سردار
پدے ورځ شهٔ پیدائیم ، ارشاد دپاك رسول دے

تیارے د کفر لاړے ، وطن رنړا رنړا شو
دَکورنه جوړ جنت ، دحضرت عبد اللهؓ شو

راتـلـلـوسره ختـم ، فسـاد دپاك رسـول دے
مـانـړۍ دِ کسـرئ ورانـه ، شو مـړدفـارس اور
ښـکاره ئـے کـل جهـان تـه ، کړو محمدیؐ زور
شیـطان کړے په آمد، فریاد د پاك رسـول دے
چـه غـوښتـے دعاګانـے ، خلیلؑ وے د مولیٰ نه
مروی دی خوشخبریانـے ، دحضرتِ عیسیٰ نه
لـه دغـودعـاګـانو، مـراد دپاك رسـول دے
نـه وؤ بـه ګـورے رونړو ، چمن کښے دا ګلونه
نـه وؤ بـه پیدا شـوی ، زمـونږه دا مـخـونـه
جهـان واړه پـه مـخ ، آبـاد د پا ك رسول دے
میـلاد نـه چـه مُـنـکـروی ، دا واړه ظالمان دی
په خُله هسے لګیادی ، په زړهٔ کښے دشمنان دی
دښـمـن او عـنـادګـر، بـربـاد د پاك رسول دے
ژړلـی مـونږ دپاره ، پـه زمکـه پـه اسمان دی
سـوالونه ئـے غوښتلی ، له رب په لامکان دی
قربان مو سرومال او ، جائیداد دپاك رسـول دے

دا تهول نظر کرم ، دخواجهٔ خواجګان دے
چه نوم ئے مبارك ،حضرت سیف الرحمانؒ دے
وارث دے اوهم ، قطب الارشاد د پاك رسول دے
خادم ظفرګل وائی چه ، دا مِ عقیده ده
مرشد م پهلوان دے ، ورکړے رب رُتبه ده
سید نورعلی شاهؒ مِ ، اولاد دپاك رسول دے
میلاددپاك رسولؐ دے،میلاد دپاك رسولؐ دے

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۸) روضه کله هیریږی

محبوبه رانه بیاستاسو روضه کله هیریږی
صلات سلام چه وائیمه جنګله کله هیریږی
برکت دِ په نسب کښے دنیکونو را روان دے
دنیانه د زمزم ښکلے چینه کله هیریږی
فارس کښے ئے اورمړکړو دکِسرئ مانړئ شوه ورانه
دوخت د ولادت دا معجزه کله هیریږی
سپوږمئ چه پرے اسمان نه دوه ټکړے زمکے ته راغله

دګوتے مبارکے اشاره کله هیریږی
داستا سوبرکت وؤ چه بتانونه صفا شوه
که ډیر عمر شی تیرخانه کعبه کله هیریږی
چه ستاسو پکښے لامکان ته لاړئ بیا واپس شوئ
دیدار مو درب اوکړو هغه شپه کله هیریږی
طرف دمدینے ته غارثورنه وه روانه
ترمرګه هغه ښکلے قافله کله هیریږی
دډیرو برکاتو فیوضاتو خزانه ده
نظرنه مدینه منوره کله هیریږی
روضے مطهرے ته چه ولاړ وومه په سینه
ګریوان باندے داوښکوفواره کله هیریږی
دنیمے شپے به ووم درسره ریاض الجنت کښے
دمینے محبت دا شبګیره کله هیریږی
داستاسو دَ دیدار دپاره ښکلے وسیله ده
دا حج کله هیریږی دا عُمره کله هیریږی
خادم ظِفرګل وائی دوباره درب نه غواړم

په خوب کښې لیدلے ستا چهره کله هیریږی

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۹) تشریف آوری

ربیـع الاول راغــے ، بــرکتــونــه لـری
پکښې محبوب د اللّٰه، چه تشریفونه لری
دبــرکتــونـو میــاشــت ده،دانوارونو میـاشـت ده
نسبت ئے ډیراعلیٰ دے،درحمتونو میاشت ده
رحـمـت راغـلــے پـکښــے،ډیـر رحمتونـه لری
ځـه ښکلـے ورځ وه دګُل، چه راغـے ختم الرسُل
کـعبـه کښـے پریوت نسکور،لات اومنات او هُبل
شیــطــان پــه چغـوسرشـو، ژړا ویـرونـه لـری
د عبـد اللّٰهؓ پــه کـورکښـے، دآمنـے غیـږه کښـے
رحـمـت دخـدائـے نـازل شو، دحلیمےؓ غیږه کښـے
زړهٔ کښــے دښـکـلی مـحبوب، محبتونـه لری
قـحـط سـالـی شـوه ختـمـه ،مکه ودانه شوله
څـوارلـس چتیزه مانړیٔ ، دکسریٰ ورانه شوله

اوردفارس ئے مړکړو، ډیرطاقتونه لری
ډیررب جلیل خوشحال وؤ، هم جبرائیل خوشحال وؤ
فرشتے ډلے ډلے ،هم میکائیل خوشحال وؤ
سترګے خمارے ئے دی ،شونډے لعلونه لری
تورات ، انجیل ، اوګوره ، زبورصفت ئے کړے
هم صحیفے ډکے دی ،غفور صفت ئے کړے
هم په قرآن مجید کښے،ډیرصفتونه لری
نور دایمان ئے راوړو، هرخوا اسلام ئے خورکړو
دپاك الله د مینے ، عظیم پیغام ئے خورکړو
باطل ئے کړلوناکام ، ډیرکمالونه لری
مرکز د دین اسلام ، او د ایمان ئے جوړکړو
درنګارنګ ګلونو، ښکلے بوستان ئے جوړکړو
صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ علیؓ، داسے ګلونه لری
ډیرصفتونه لیکه ، د یارنعتونه لیکه
اے ظفِرګل خادمه ، ښکلی شعرونه لیکه
دَدغه ذات صفت کړه ،ډیرثوابونه لری

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳۰) ربیع الاول دے

ربیع الاول دے رحمت راغے په جهان کښے
شکر دپاك رب کوؤ ،هو،هو
ګُل اوتهو کیدلو د مکے په ګلستان کښے
شکر دپاك رب کوؤ ،هو ،هو

دامیاشت د ربیع الاول څومره فضیلت لری
دے کښے محبوب راوړلو تشریف ډیربرکت لری
څوك چه ورسره په زړهٔ کښے مینه محبت لری
څومره سعادت پروت دے په دغه یوانسان کښے
شکر دپاك رب کوؤ ،هو ،هو

ګُل تشریف فرما شولوپه کوردعبد الله کښے
شوے تیارے دکفرشرك بدلے په رنړا کښے
تهول مخلوق خوشحال وؤیوشیطان وؤپه ژړا کښے
خاورے ئے نوستلے په سرخوشی بیابان کښے
شکر دپاك رب کوؤ . هو ،هو

مـراد د دعـا ګـانـو د حـضـرت خـلـيـل الله راغـے
رب لـه دی حمدونه ښکلے زیرے دعیسیٰ راغے
غیـرِ د امنے بی بی ته ښکلے مصطفٰے راغے
غـرِ دخـوشـحـالـئ شـود هاشم په خاندان کښے
شـــکـــــر دپـــــاك رب کــوؤ ، هــو ، هــو

بـخـت دحلیمے رضؓ بی بی یودم کښے رابیدارشولو
وسپـارلـے دے تـه چـه محبوب دکردیګارشولو
اوښـه ئے کمزورے وه خوتیز چه ئے رفتارشولو
مـخښـکـے شوه د تلے قافلے نه په یو آن کښے
شـــکـــــر دپـــــاك رب کــوؤ ، هــو ، هــو

کړئ نشته

عـمـرئے شه ډیرپیروزمِ نشی په مرګی باندے
میـنـه ئـے لـرمـه ډیره زیاتـه په زړګی باندے
جوړمِ کـړو دا نعت په فرمائش دلالاجی باندے
کلـه چه روان وؤپه کاټلنګ ضلع مردان کښے
شـــکـــــر دپـــــاك رب کــوؤ ، هــو ، هــو

وائی ظفرکل خادم چه مونږه به مولودکوؤ
ذکربه شپه ورځے د الله غنی معبودکوؤ
دا رنګِ دوام به دمحبوب په پاك درودکوؤ
څوچه م طاقت وی په قلم او په زبان کښے
شکر دپاك رب کوؤ، هو، هو

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (**۳۱**) ربیع الاول دے

ماته ګران ئے هرچانه ، هاشمی نبی سلطانه
ئے محبوب دپاك الله غنی اکبر
ئے ځما دزړګی سر ، ئے ځما د زړګی سر
ته محبوب ئے دسبحان
ته موصوف ئے په قرآن
لرے ښکلے خاندان
زار شم لتاله خاندانه ، ځما دین ځما ایمانه
دی روښان دِ په انوارو بحروبر
ستا چه اوشو ولادت

وریــــدو دخـــدائـــے رحـــمـــت
ختـــم شـــولـــو جهـــالـــت
تیارۀ لاړه لـه جهانـه ،کـل دنیا شـولـه روښانه
پـــه اسـمـــان دنبـوت روښـــانـــه نــمـر
شـــوه هـــر خـــواتـــه خـــوشـــحـــالـــی
ختـــمـــه شـــوه قـــحـــط ســـالـــی
کـــړه قـــائـــم دِ رورولــــی
کـړه ژړائے له خفګانه ،لښکرتاؤشوله شیطانه
چـــه دا ستـــا پـــرِ ولادت شـــولـــو خبـــر
بتـــان پـــریـــوتـــل نســـکـــور
پـــه فـــارس کښـــے مـــړشـــواور
دکســـــرئ ختـــــم شـــــو زور
چـه مانړئ شوله ورانه ، دا وؤ فضل له مولیٰ نه
زور دِ مـــات کـــړو دکســـرئ او دقیـــصـــر
بـــختـــوره آمـــنـــــــهؓ
خـــوش قســـمتـــه حـــلیـــمـــهؓ

هـــم د ســـعـــد قبيـــلـــه
چه ئے بوتلے قدردانه، د مکے اُم لقریٰ نه
کـړو حـاصـل ئے دبـرکـاتـو سمندر
هـلتـه کـښـے وے څـلـورکـالـه
فـضـاتـولـه وه خـوشـحـالـه
جبـرائیـل؏ راغـلـلـو تـالـه
رانازل شوله اسمانه،میکائیل؏ هم عالی شانه
درلـه ئـے اوکـړوپـه حـکـمت شق صدر
رب درکـړے مـعـجـزات
دخـوبـانـو کـمـالات
لـړے ډیـر زیـات کـمـالات
ډیر حسین ئے له هرچانه،مدنی شاه خوبانه
ئـے دَظـلـم تـورو شپـولـره سـحـر
چـه ستـاخـواکښـے وی قیـام
وی پـه خُـلـه صـلات سـلام
زړګـے اومـومـی آرام

فیض رائی ستاسوله خوانه،ستاله گنبدِ خضرانه
دا وخت وی په ظفرکل خادم اختر

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳۲)

ستا راتلل که مقصود نه وے
دا جهان به پیدا نه وے
دَعُلوی سُفلی رونق
انس وجان به پیدا نه وے
دا خوستا دمخ خاطر دے نتیجه ده د لولاك
عرش کرسی لوح قلم ،هم آسمان به پیدا نه وے
ستا په مخ باندے قرآن کښے قسم کړے پاك الله دے
که ستامخ ئے باعث نه وے، ټول نبیان به پیدانه وے
الله وائی زهٔ یو پټه خزنه وومه حدیث دے
دأَنْ أُعْرَفْ فرمان دے،داعرفان به پیدانه وے
نه دوزخ نه به جنت وے نه به ئے وؤدا نعتونه
نه به حورے بے مثاله،هم غلمان به پیدانه وے

په خطاب د فترضیٰ کښے دعظمت اضافه شوے
که دِیاد د اُمت نه وے،ستا خفګان به پیدا نه وے

چه طٰهٰ یٰسین پکښے دے هم مزمل اومدثر
هم دخلقودین ایمان،نو قرآن به پیدا نه وے

ټول اصحاب دِکنجوم کړل دخپل مخ په رنګ دِرنګ کړل
ورنه دا اصدیقؓ عمرؓ،هم عثمانؓ به پیدا نه وے

چه رب لوئے شان درله درکړودشیطان کینه په دے وه
که ستاشان وته تسلیم وے،دشمنان به پیدانه وے

ستادښکلی مخ صفت کړی په قلم اوپه زبان
دَخادم ظفِرګل شعر،هم زبان به پیدا نه وے

❁❁❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳۳)

حسن ئے تمام جهان منلے دے
ربیع الاول کښے ځلیدلے دے

دا وۀ دولسم تاریخ دَدِ میاشتے
ورځ دګل وه ګل پکښے راغلے دے

ستوری شوراکوز د عبدالله په کور
غیږ د آمنې کښې زیګیدلې دے
ډیره بختوره حلیمهؓ ابۍ
دے کره زانګو کښې زنګیدلې دے
مخ ئې وؤله شمس اوله قمر خائسته
رب ته په سجده کښې غورځیدلې وے
وخت د ولادت کښې هم په لامکان
دے اُمت دپاره ژړیدلے دے
لږ وخت کښې د زمکې نه آسمان وته
بیا دعرش نه پورته رب له تلې دے
نوربه ئې دسترګو نه کوم ځیژپټ شی
کومو سترګو پاك رب چه لیدلې دے
حکم چه درب دلوری راغللو
بیا ښکلې وطن ئې پریښودلې دے
درے شپې ئې په غارِثور کښې تیرے کړے
دغلته کښې مار صدیقؓ خوړلې دے

ډیـــر وؤ بهـــادر ددیـــن دښـــمـــن ســـره
بـــدر او اُحـــد کښـــے جـــنـــګیـــدلـــے دے
وائـــی ظـــفِـــر ګـــل خـــادم ورځـــمـــه بیـــا
ډیـــرم پـــه زړګـــی راویـــدلـــے دے

۞۞۞۞۞۞۞

نعت شریف (۳٤) میلادالنبی صلی الله علیه وسلم

رنـړا رنـړا شو ټول جهـان چـۀ مُعتبر راغـے
د تـورے شپـے تاریکی لاړه سپین سحرراغـے
دخـوشـحـالـئ دور په صدیقؓ او په عمرؓ راغـے
دزړۀ آرام د ذوالـــنـــوریـــنؓ او دحیـــدرؓ راغـــے

(۱)

د عبـد الله پـه کورکښـے نمر شو له آسمانه راکُوز
مشـعـل د نـورشو خاص له عرشِ مُعلیٰ نه راکُوز
ټـکرے ټکړے شوے چه دکفرآستانے خومره وے
ختـمـے شـوے واړه چه دشرك صنم څومره وے
ورانـے شوے هرځائے چه غلطے یارانے څومره وے

شولے پنهانه چۀ دجهل نشانے څومره وے
دنیاته راوړلو تشریف د محسنانو، محسنؐ
ختمے کړے واړه طریقے دکافرانو، محسنؐ
لات اومنات له ډیره غمه په آرمان اوژړل
نسکوربُتان شو په کعبه کښے هُم شیطان اوژړل
په خوشخبرئ ئے دکافرو هریو ځوان اوژړل
ابن هشام هم ئے بتانو په یوشان اوژړل
شوه په راتلو دمحترم سره فضا بدله
دبے دینانو خوشحالی شوه په قضا بدله
هریوملك ته دجبریلؑ نه دا صدا اوشوله
شه مبارك مو د الله تعالیٰ رضا اوشوله
بنکلے نعره دلا اله الاالله اوشوله
مبارکی د فرشتوپه هرسما اوشوله
خوره نعره شوه چۀ دُنیا ته پاك حضورؐ راغے
نُورٌعلیٰ نُورٌ شو چۀ د نُور دلوری نُور راغے

۞

(۲)

دآمنےؓ غیږه کښے ستورے آسمانی شۀ نازل
دحلیمےؓ په کورکښے فضل سُبحانی شۀ نازل
دابراهیمؑ په باغ شبنم یو نُورانی شۀ نازل
خاص دَ مکے په ښار انوارِ مدنی چۀ نازل
دګُل په ورځ باندے دَګُلو شهنشاه پیدا شۀ
دګل په ورځ باندے دګل څانګے نه ګل جُدا شۀ
که ظفرګل هزار خوانئ نه خپل دلدار اوغواړی
که دعجم نه و عرب ته ئے سردار اوغواړی
دا کم نصیبه که روضے ته وفادار اوغواړی
صرف یو ځلے خپل حرم ته ئے نګار اوغواړی
اوکړه یقین چه دزړګی به ئے درمان اُوشی
که پرے یو ځلے د الله تعالیٰ احسان اُوشی

یـــوه کـــړئ پـــاتــــے ده

❁❁❁❁❁❁❁

معراج نامه(۱)

روح ئے دهمه نظام ، شپه کښے دمعراج نبیؐ
دے پتا صلوة سلام ، شپه کښے د معراج نبیؐ
دی زمین آسمان خوشحال ، هم رضوان په جنت کښے
راولیږه الله پیغام،شپه کښے دمعراج نبیؐ
لاړ شه جبرائیلهؑ نن، راوله محبوب ځما
کور کښے کړی دناز آرام ،شپه کښں دَمعراج نبیؐ
بنکل کړۀ جبرائیلؑ تلی، شونډے کافوری لری
جوړ دِ شو اعلیٰ غلام،شپه کښے دمعراج نبیؐ
جبرائیلؑ هم میکائیلؑ، هم هفتاد هزار ملك
نیسی د براق لګام ، شپه کښے دمعراج نبیؐ
بیت المقدس کښے وؤ، جمع انبیاء همه
شو دتهولو پیش امام ، شپه کښے دمعراج نبیؐ
پاتے جبرائیلؑ آمین،سدرِمنتهیٰ کښے شو
مخکښے نه شی تلے یو ګام،شپه کښے دمعراج نبیؐ
کوم راز چه په مینځ کښے وو،طالب ومطلوب لره
فاش کړلو دعرش په بام ، شپه کښے دمعراج نبیؐ

لامکان ته لاړلو، خپل جسدِپاك سره
طے کړل منازل تمام ، شپه کښے دمعراج نبیؐ
قَابَ قَوُسَیُن ذکر دے ، سورۃِ والنجم کښے
اوکړو رب سره کلام ، شپه کښے دمعراج نبیؐ
دے خوانه تُحفه عِجز، عبادت قولی فِعلی
اخوانه انعام اکرام ، شپه کښے دمعراج نبیؐ
وائی ظفِرګل خادم ، شان چه عالی شان لری
نه لری څوك دا مقام ، شپه کښے دمعراج نبیؐ

۞۞۞۞۞۞۞

معراج نامه (۲)

په لامکان دِ دَرب کړی دی رازونه ګلعزاره
تلے تر غنی پروردیګاره
ستا ذات رحمت د عالمین دے،نشته بل څوك
څوك چه دعوه کوی لعین دے،نشته بل څوك
ختم پتا کړل الله واړه عزتونه ، ګلعزاره
چه ستا په زلفو ګرفتار شی ، یاحبیبهؐ

رضا ترے هله رب غفارشی، یاحبیبهٔ
ستامجنونانوله تیاردی جنتونه ، ګلعزاره
چه کله راغے جبرائیلؑ ، ستاسو مخکښے
امرئے راوړو دجلیلؑ ، ستاسو مخکښے
کړی فرشتے ستادراتلو انتظارونه ، ګلعزاره
یكِ تنها لاړے لامکان ته ، رب غنی له
مخلوق حیران دے ستاسوشان ته ،رب غنی له
مونږ ګهنګاروله دِ ډیرکړی سوالونه ، ګلعزاره
دښکلی خوږ وطن مکے نه ، شوے مسافر
صدیقؓ دِ زار ووطریقے نه ، شوے مسافر
ښکلول ئے دم په دم دپاك قدم ګردونه ، ګلعزاره
یثرب نه جوړه مدینه شوه ، ستاپه راتلو
هم منوره ئے سینه شوه ، ستاپه راتلو
انصارو اوشیندل په لاروکښے ګلونه ، ګلعزاره
تول مهاجروؤ که انصاروؤ ، یامدنی
ستادخائسته رخسارنه زاروؤ، یامدنی

زۀ ظفرِ ګل خادم پرے وائیم سلامونه ، ګلعزاره
تــلــــے تـــر غـــنـــی پـــروردیـــګـــاره

❁❁❁❁❁❁❁❁

معراج نامه (۳)

چـــه دمـعـراج پـه شپـه بـلـلـے پاك الله دے
هـغـــه مـحـبـوبؐ دوسـت د مـولـیٰ دے

چـــه جبـرائیـلؑ عـلیـه السلام ، الله اولیـږۀ
مـحـبـوب نـن شپـه کـانـدی آرام ، الله اولیـږۀ
کـورکښـے د تـرۀ د لـور ورځـه آراما فرما دے

زیـرے پـرے اوکـړو دمـعـراج ، بـوځـه بُـراق
یـوسـه جـنـت نـه دنـورتـاج ، بـوځـه بُـراق
اوکـړه یـقـیـن چـه راتـه ګران ډیرلـه هرچادے

تشـریف چـــه راوړو جبـرائیلؑ ، اودریـدلـو
فـکـرکـړی نـه کـوی تـعـجـیـل ، اودریـدلـو
کــه ئـے پـاخـوم بـے ادبی ده وارخـطـا دے

رجـوع ئـے اوکـړلـه مـولـیٰ تــه ، الله اووئـیـل

جبـریلـه ورشـه دخپوخواتـه ، الله اووئیـل
پـه کـافـوری شـونـډوکـړه ښکل تلے زیبا دے
پـه شونډوخپے جبرائیلؑ ښکل کړے ،محبوب کیناستو
مسـکـاسـره شـونـډے ئے ګُل کړے ، محبوب کیناستو
ورتـــه جبـرئـیـل عـلیـــه السـلام داسے ګویـا دے
الله وئیـلــے دے سـلام ، مـحبوبـه راځـه
درکـوی خپـل دیـدارانـعـام ، مـحبوبـه راځـه
دا خـصـوصـی سـعادت صِرف حبیبهؐ ستادے
محبوب خوشحاله روانیږی،دخدائے په لوری
صـلوة سلام وئیلے کیږی ، دخدائے په لوری
میـلـمـه نـن شپـه بـره لـه عـرش مُعلّٰی دے
میـلـمـه دخدائے په لامکان شو ، مکی عربی
خوشـحـالـه ډیـرنبیؐ سلطان شو، مکی عربی
خـدائـے تـه نـزدے له قابَ قوسین اوهم ادنیٰ دے
دے لـوئے عاشق فقیر آبادکښے،محبوبِ سبحان
ژونـد تیـروی درب پـه یـاد کښـے،محبوبِ سبحان

شك پکښے نشته اولیاءُ کښے بادشاه دے

زۀ ظفرګل ئے په صفت کښے، اشعارلیکمه

هم ئے د اٰل په محبت کښے، اشعارلیکمه

نمسے ددوئ ځما مرشدنورعلی شاهؒ دے

هغه محبوب دوست دمولیٰ دے

❁❁❁❁❁❁❁

معراج نامه (٤)

شپه کښے دمعراج واصل دپاك سبحان شولے

ګران ئے پاك الله ته مهمان په لامکان شولے

چه جبرائیلؑ براق حاضر کړو

دمقدس په لوردِ اوکړل منزلونه ، مبارك شه درته

هلته په بیت المقدس کښے

شولے امام انبیاء اودریدل صفونه،مبارك شه درته

هلته امام المرسلین شوے

بیادِ آسمان طرف ته اوکړل پروازونه ، مبارك شه درته

اول آسمان کښے بابا آدمؑ

اولیدوتاسو بیاموبوړل تشریفونه، مبارك شه درته
داسے لــه هـرآسمـانـه تیـر شوے
هریوملك نبی دِ اوکړل دیدنونه ، مبارك شه درته
چــه مـنتهـیٰ مـقـام تــه لاړے
په منتهیٰ کښے جبرائیل[ع] اوکړل عُزرونه، مبارك شه درته
تیــر مــلـکـوت اوجبـروت نـــه
سورپه رفرف په عرش دِکیښول قدمونه ، مبارك شه درته
ستــاپــه قـدم عــرش بـختـورشـو
ستادراتلو ئے رب ته کړی وؤسوالونه، مبارك شه درته
بیـــالامـکــان تـــه پــه پـروازشـوے
الله بے کیفـه درله درکړل دیدارونه، مبارك شه درته
ســوال دِ امــت دپــاره اوکــړو
الله وئیـل مـادرتـه اوکړل بخششونه، مبارك شه درته
داســفــرخــومــره مبــارك وؤ
اودِلیـدل پکښے دوزخ اوجنتونه، مبارك شه درته
زۀ ظـفِـرګـل خــادم خــوشــحــال ئـم

دجیلانی مرشد په سرلرم لاسونه ،مبارك شه درته
ګران ئے پاك الله ته ،مهمان په لامکان شولے

❁❁❁❁❁❁❁

معراج نامه (۵)

اووے جبرائیلؑ امین، پاك نبی سلطان ته
دواړه روانیږو رب دِغواړی لامکان ته
راغے جبرائیل علیه السلام نبی روئیدارته
تاسوپسے راغلم چه ورځے درب دیدارته
سورشه په بُراق نبیؐ ځه غنی سبحان ته
شمعے فرشتولاس کښے نیولی دی دنورګله
ځه چه غواړے ته هغه الله ته دی منظورګله
مخښکے مقدس ته ځوبیا به ځے رحمٰن ته
سورپه جنت بُراق ځمونږنبی خوشحاله شو
فضل پرے نازل له الهی رب ذوالجلاله شو
جمع انبیاء دی ټول فخرِ دوجهان ته
بیت المقدسه پورے لاړ شاهِ خوبان نبیؐ

اولیدل یو لاکھ څلیریشت زره تهول نبیان نبیؐ
اوکړه سلامی هریو هاشمی جانان ته
هلته کښې ختم الرسل امام الانبیاء شولو
فضل الهی سره د تهولو مقتدا شولو
دوئ نه روستو پاك نبیؐ لاړ اول آسمان ته
داسې په مزه مزه قریب شو منتهیٰ پورې
پاتې شو جبرئیلؑ لاړ حبیبؐ عرش معلیٰ پورې
عرش باندې داخل شولو غوږ کیږده بیان ته
شمعې د نور بلې دی دعرش په منارو باندې
کیخول قدمونه مبارك پرې په روړ روړ باندې
راشه د پیزار سره غږ شو علی شان ته
عرش شو مبارك د پاك رسولؐ ښکلې قدم سره
بیاد عرش نه فوق لاړو محبوب د رب کرم سره
رب سره واصل شولو گوری مستعان ته
دا د راز او ناز خبرې مونږ ته څه معلومې دی
نورپه بره عقل نه شی تلې نازکې لُومې دی

لـرے نـقـابـونـه کـړل رب آخـرزمـان تـه

عشـق دُنیا کښـے اولـره خپل پیر نورعلی شاهؒ سره

بیـا بـه دے پیـدا شـی عشـق دپاك رسـول اللهؐ سره

ځـنګ چه دے مرشد رسی پیرسیف الرحمنؒ ته

ځـه دخپـل مـرشـدپـه لاړشـه پـه سفر شـه تـۀ

ځـه دیـار وطـن تـه ظـفِرګـلـه مسـافرشـه تـۀ

ګفـت مبـارك كـړے دے ځـه عـربستـان تـه

❁❁❁❁❁❁❁

معراج نامه (٦)

پـروت ئـے پـه سـرد یٰسـین مـزیّن شـال دے

شپـه د مـعـراج د ه غـوښتـے رب ذوالجلال دے

رضـوان شـروع نـن دجنت پـه خائسـتـونو کښـے دے

پـــــه خـــــدمتـــــونـــــو کښـــــے دے

جبـریـلؑ بـراق روانـوی درب حـمـدونو کښـے دے

پـــــه درودونـــــو کښـــــے دے

کـړی انتـخـاب د بُـراق ډیـر زیـات خوشحال دے

اُمِّ هانی کره خدمت کښې جبرائیل ؑ راغې
بل میکائیل ؑ راغې
فرمان ئې راوړے ځان سره درب جلیل راغې
ډیر په تعجیل راغې

سترګې اوده زړهٔ بیدار د سپین جمال دے
جبرئیلؑ شونډے نزدے کئ ورله قدم ښکلوی
د غنچه فم ښکلوی
خاص ئې په حکم د مولیٰ غنی اکرم ښکلوی
په مینه ئې سم ښکلوی
ځکه جبریئلؑ ته حاصل شان بے مثال دے

حضورؐ بیدار شو جبرئیل ؑ ورته سلام اوکړو
دا ئې کلام اوکړو
الله پتاسو باندے بے حده انعام اوکړو
ستا ئې اکرام اوکړو
قربان سوریږه چه ځولیل د وصال دے

ملك اویازره ولاړ دی دا صدا کوی

خـــــــۀ مـــــرحبــــــا کـــــوی
نـن بـه مـحبـوب دیـدار د پاك غنی مولیٰ کوی
مـــــزه بــــــــــه دا کـــــــوی
چـاپیـره ښـکـاری چـه بـل دنُـور مشـعـال دے
چــه مقـدس تــه لاړل جـمع وؤ نبیـان مـرسلان
شـــول دمـــحبـــوب مـــقتــدیــــان
تـول وائـی فـی امـان الله کوتـه خُلـه دی حیـران
مـــحبـــوبـــــه ډیـــــر لاړے شـــــان
ځــی د اسـمـــان پـــه لـوری بلـنـد اقبـال دے
ځـی اسمـانـونـوتـه هـم بیـابـه منتهیٰ تـه ځی
عـــــرش اعـــلـــــیٰ تــــــه ځــــی
ځـی لامـکـان تـه بیـا بـه جنت الماؤی تـه ځی
درب رضـــــــا تـــــــــه ځــــــی
پــه انتــظـار تـولـه شپـه حضـرت بـلالؓ دے
حـافـظ بشیـره دا کـلام چــه خوندور لیدے شی
پـــکښـــے اثــــرلیــــدے شــــی

دا د سيد نورعلى شاهؒ پرے لوئے نظرليدے شى
ځــلــيـــــږى نــــمـــــرليـــــدے شـــــى
داپــــرے خــادم ظـفِـرګل كـرے كمـال دے

❁❁❁❁❁❁❁

معراج نامه (۷)

بغيـرلتـابـل پيـغـمبرؐ ندے غفار له تلے
مـحبـوبـهؐ تــه ئے كـردګـار لــه تلـے
راغــے جبـريـلؑ لـــه بره ، دمـنتهئ دلـورى
امـــرئـــے راوړوبـــــكـــلـــے ، دپـاك الله دلـورى
الله دِ غـــواړى هـــرمـــلك د، انـتـظـارلــه تلــے
تـۀ دناموس په خواهش ، لاړے اقصئ ته ګُله
تـول انبيــاء پـــه ســلام ، ولاړ وؤ تــاتــه ګُلــه
هــرپيـغـمبــرؐ تــر مـقـدسـه ستـاديدارلـه تلـے
پس له هغـے شوے روان ، پاس دآسمان په طرف
جبـرائيـلؑ اوكـړو اواز ، بيـا د دربـان پـه طـرف
راسـره مـل دے چـه زۀ وومه كـوم نګارله تلـے

لـــرے دربـــان کــړلـــو ور، شـــو بـخـتـــور دنـــنـــه
شـــو پـــه قیـــام د آدام ، نبــی ســـرور دنـــنـــه
داسے پـه هراسمان کښے هریو گلعزارله تلے

پـاتے جبـریـلؑ شـولتـا ،دمـنتهیٰ پـه مقام
یـوائے شـولے واصـل ،رب سـره اوشو کلام
نُـوره د نُـورسـره وے تـۀ نـورالانـوارلـه تـلے

مـــاظــفِـــرکــل اولیـــدو ، ستـــاســوحـــرم حبیبــــۀ
ورځ داختـــــر وه پـــــه مــــا، چـــه بـــه درتلم حبیبـــۀ
کاش چه دمرګ نه مخکښے بیاوے ستادربارله تلے

❁❁❁❁❁❁❁

قیصه داحمدِ سبتی رحمة اللّٰه علیه

(اول پړک)

اوس پیـرم پـــه تـارکښے لـعل درومرجان
پـــه قـــرار دِ ورتـــه کیـنـی سـامـعـان
مـــلـــغـــلـــرے راوبســـم دَ دریـــابـــه

څـهٔ عبـرت دِ تـرے نـه واخلی هوښیاران
هــوښیــاران بــه پــه مـطـلـب د دے رسیـږی
ورتــه ښوقـــے دی چـــه څـوك وی جـاهلان
مسـلـمـانــه دَ عبـرت قیـصــه شـروع شـوه
ورتــه غـوږ کیـږده چــه پـوئـے شـے پـه بیان
داقیــصـــه ده کـتـاب روض الـریـاحیـن کښـے
چـــه خبـر دی تـرے نــه واړه عــالـمـان
داسـے وائـی پـه بـغـدادکښـے یـو بادشاه وو
چــه پــه نـوم هـارون الـرشیـد ګـل دَ ریـحـان
ډیــر عــادل اوهـم سـخــی ووځـمـا روره
دَسـخـــا آواز ئــے خـوروو پـــه جهـــان
دَ بـغـداد پـه ښـاریــه بـانـدے بـادشـاه وو
پــه اولاد کښـے وو دَ پــاك نبـیؐ سلطـان
یـوفـرزنـد ورلـه ورکـړئـے رب غـفـار وو
پـه احـمـدِ سبتـی نـوم یـادیـدوځـوان
دَښـائـسـت بـه ئـے درتـه څـهٔ کـړمـه صفت

شـــرمـــنـــده وه ورتـــه بـــدر دِ آســـمـــان
شپـــاړس کـــالـــه ئـے وو عـــمـــر تـقـریـبًـا
پـــه کتـــاب کښـــے مِ لیـدلـــی دغــه شـان
هـروخـت نـاست به وودښو خلقو په مجلس کښـے
ډیـــرئـــے خــوښ وودَ الله پـــاك عـــاشـقـــان
زاهـــدانـــو بـــزرګـــانـــو ســـره خـــوښ وو
تـــلـــو اکثـــر بـــه پـــه طـرف دَ قبـرستـــان
دابـــه ئـے وے چـــه خـــانـدانـو دقبـرونـو
تـــاسـو مـــخـکښـــے ددنیـا وئی مـالـکـان
دے دنیـــا درســـره هیـــڅ وفـــاونـــکـــړه
تــولــحــدلــه تــریـنــه راغـلئ پـــه ارمـان
حتـیٰ داچــه پــه قبـرونو کښـے داخل شوئی
درنـــه پـــاتـــے شـو خـوارۀ خوارۀ دوستـان
کـــاش چــه مـاتــه مخکښـے داسـے وے خبر
چـــه دَتـاســونـــه خدائـے څـۀ کوی پرسان
او اکثـــرلـــه بـــه ئـے دا شـعـــر وئیـلـــو

یــره وی مِ جنــازے پــه هــر زمــان
څـوك چـه مـړوباندے کاندی ژړاګانـے
دَ ژړا دغــه آواز مِ کــړی پــریشــان
اوریـدونـکیـه پـه قـلاره ورتـه کینـه
اوس قیصـه کـړی ظـفِـرګـل خادم ده شان

(دویم پړک)

ساقـی راؤړه د شـرابو ډك جـامونـه
پس دَ هـغـے درتـه وایـمـه حـالونـه
شهـزاده دَ پـلار مـحـفـل لـه یو ورځ راغـے
وزیـران امیـران نـاسـت وو پـه سؤونـه
مـعـمولـی جـامـے اغـوستـے شهـزاده وے
مـعـمولی پتـکـے ئـے دَ سرتاؤکړے وونـه
اراکیـنـو دَ یـوبـل سـره دا ووے
دے پـاګـل هلك تـه اوکړئی لږ خیالونـه
دَ امیـرالـمؤمـنین نـامـه ئـے کـړه ښـکتـه

بدبه وائی په بادشاه دا نورملکونه
کهٔ امیر المؤمنین دا خپل ځوئے پوئے کړی
امید شته دے شه به ئے بنهٔ شی حالتونه
چه بادشاه دغه خبره واؤریدله
شهزاده ته ئے زر اووے د مضمونه
ځویه تا سپک کړم دَ خلقو په نظرکښے
زرترزره راته راکړه جوابونه
شهزاده پلارله جواب په خوله ورنکړو
وړاندے څهٔ کړی دَ الله دی قدرتونه
یو مرغۍ په دیوال ناسته وه اوچته
دے مرغۍ ته ئے اوکړل اشارتونه
دَ الله په واسطه راشه دے ځائے ته
زرترزره زما اومنه حکمونه
زمالاس باندے راکوزه شه دلبره
مرغۍ زرخوارهٔ وارهٔ کړهٔ وزرونه
راغله کیناسته په لاس دَ دغه ښکلی

بیائے اوکړلو مرغۍ ته دا عرضونه
مرغۍ لاړه شه په حکم دَ اکبر
دوباره کړه خپل مقام ته پروازونه
خپل مقام ته مرغۍ لاړله واپس
تهول د خیردی دَ اللّٰه غنی کارونه
بیائے پلار ته وے چه ته ئے اوس اوغواړه
د مرغۍ چه تهول محفل اوکړی سیلونه
بادشاه ډیر مرغۍ ته اووئیلے شه راشه
بیائے واچول مرغۍ ته قسمونه
اے مرغۍ زر شه راکوزه زما لاس ته
خپل مقام نه دے ریپورته کړه څانګونه
ظفر کله مرغۍ رانغله بادشاه له
تهول مجلس شولو حیران په تجویزونه

(مصُرعے)

شهزاده پلار ته داسے اووے

تاسو چه خپل زړهٔ کښے لرئ دَ دنیا مینه
دَدغــــه میـنـــے مــخـــالف یــم
بــے دَ اللّٰه رسـولؐ نــه هیـڅ نـهٔ پیـژنـمـه
بـــادشـــاهـــی تـــخـــت مِ پـــکـــارنـــهٔ دے
زهٔ بــه تـر عـمـره غـریبـی خپـلــه کـوُمــه
دَ دیـــنـــاگـــئ غـــمـــونـــه ورك شــــه
دَ آخـرت غـم بــه تـر عـمـره عـمره کړمـه
مـــائـــے پـــه خـدائـے بـانـدے سپـارے
بـابـاجـی زررالــه رخصـت راکړه چـه ځمـه
دَ خـــدائـــے پـــه امـــان زهٔ درنـــه لاړم
پـه هرمـانځـه کښے کړه دُعا راتـه پـه مینـه

(دریم پړک)

تـول کـارونـــه دی دَخیـــرد کـــردیـگـار
اوریـدونـکیـه ورتــه کینــه پــه قـلار
راوی وائـــی شهـــزاده پـــه داســے رنگ

پلار ته اوكړه سمدستى دغه ګفتار
باباجى اوس به له تاسو نه جدا شم
رخصت راكړه چه ورځم په پخپله لار
دا ئے اوئيلے رخصت ئے واغستلو
په طرف دَ موربى بى راغلو دوبار
قيمتى ګوته مور وركړه دَ تلووخت كښے
وئيلے ځويه دا به ستا راشى په كار
ځان سره ئے واغستو قرآن مجيد
بيا رخصت شو موربى بى نه په تلوار
په ميرو اوپه ځنګلو باندے سرشو
دَ بغداد نه لار بصرے ته ګلعزار
مزدورانو سره كار باندے شروع شو
په هفته كښے به ئے يو ورځ كولو كار
مزدورى به ئے دَ خالى په ورځ كوله
نورے ورځے عبادت ته وو اوزګار
يو درهم او د درهم حصه شپږمه

اخستــه بــه ئــے مـزدوری اوکـړه اعتبــار
کـمــه زیــاتــه ئــے لــه دے نــه نـوره نهٔ وه
ســـامـعـــان دِ شــی دَ حـــالـــه خبـــردار
دَ درهـــم حـــصـــه شپـږمـــه ئـــے خـرچـــه وه
روزانــــه دغـــــه خـــرچــــه وه دِ نـــامــدار
ابـــوعـــامـــرؓ بـــصــری وائــی دغـــه رنګ
پـــــه تـــکـــل دَ مـــــزدور لاړم تـــــر بـــــازار
یـــودیـــوال زمـــا دَ کـــور وو راپـــریـــوتـــے
پـــه تـــلاش کښـــے اووتـــمــــه دَ مــعـمـــار
مـــاچـــه اولیـــد دا هـــلك ډیـــربـــے بهـــا وو
قـــرآن لـــولـــی دَ خـــالـــق پـــروردګـــار
یـوزنبیـل ئـے خواته پروت دے قرآن لولی
مـــاتپـــوش اوکـــړو دَ دهٔ نـــه پـــه قـــلار
مـزدوری کـوے کـه هسـے دلته ناست ئـے
مـــاخبـــرکـــړه ســراســر بـــه دے اسـرار
پـه جـواب کښـے راتـه اووے دغـه ځوان

مزدورئ لـه پیدا کړی یو ستّار
وئیلے مانه به دَ څۀ شی خدمت اخلئ
په هر وخت کښے دے زۀ یمه تابعدار
ما وئیل ورته دیوال مِ دے پریوتے
دَ هغے تعمیر له تا بو ځمه یار
وئیل درهم او دَ درهم حِصّه شپږمه
مزدوری به راکوی راتهٔ په شمار
دَ مانځه په وخت کښے زۀ به مونځ له ځمه
کار به نکړم درسره کړمه اقرار
ما شرطونه دَ هغه دواړه منظور کړۀ
ځان سره مِ را روان کړلو هوښیار
اے خادمه ظفر کله را روان شول
اوس به کارکوی دَ ختهو جلوه دار

(مصرعے)

خدایه دا څو مره سخت ساعت دے
چه اوس نمسے دَ پیغمبرؐ ختے کوینه

ربه همت ورله اوس ورکړے
ته ئے کامیاب کړے چه ئے څۀ دی مقصدونه
خدایه بړے ورلره ورکړے
ورته په مخ دَ پاك نبیﷺ اوکړه خیالونه
دَ ختهو کار خدایه ډیر ګران دے
خوشکردا چه دَ عامِرؒ خدمت کوینه

(څلورم پړك)

وخت تروختنه دَ قیصے خوارۀ زیاتیږی
هریو کار دَ پاك الله په رضاکیږی
شهزاده په کار شولو سحرا
چه ما ښام شولو دَ کاره اوزګاریږی
عامرؒ وائی ما چه اوکتل ماښام
زما عقل دے څلمی ته حیرانیږی
چه یوکس دے کارئے اوکړلو دَ لسو
په دے راز باندے اوس پاك الله پوهیږی
مادَ ډیرے خوشحالئ نه دوه درهمه

ورلــه ورکــړهٔ هلك کلــه خوشــحالــيــږی
راتــه ئــے وئــيلــے مــقــرر شــرط نــه زيات
اے صــاحبــه دغــه مال مــے حــراميــږی
يــو درهــم او دَ درهــم حــصّــه شپــږمــه
رانــه ئــے واخستــه پــه لاره روانيــږی
کــنــړه داده چــه زمــا دَ ځــايــه لاړه
صبــا بيــا کــلــه زمــا زړګــے صبريــږی
صبــالاړم هــغــه ځــائــے کښــے ګرځيدمــه
زهٔ ګــرځيــدم هــلك نشتــه نــه ښکاريــږی
مــاتپــوس هــلتــه کښــے اوکــړلــو دَ خــلقــو
هــغــه ځــوان خــودلتــه نشتــه څــهٔ بــه کيــږی
پــرون مــا چــه کــوم بــوتــلــے ووخپل کارلــه
هــغــه کــس نشتــه زړګــے مِ خــفــه کيــږی
خــلقــو وئــيل راتــه صاحبــه خفــه مهٔ شے
هــغــه ځــوان هفتــه کښــے يــو ورځ حاضريــږی
دَ خــالــی پــه ورځ هــغــه ځلمــے کــړی کــار

بے دَ دے ورځے نه کله ملاویږی
دَ دهٔ کارِ وو په تیر خالی لیدلے
ورسره مِ ډیر رغبت راپیدا کړی
ماخپل کار پوره آتهٔ ورځے کهٔ بند
په نهمه ورځ مِ بیا ځلمے یادیږی
ابوعامرؒ ورپسے لاړو ظِفر کله
هللك ناست دے قرآن لولی خوشحالیږی

(پنځم پړک)

ساقی راوړه دَ شرابو نه ډك جام
چه نشه شم درته اوکړمه کلام
دا خواږه قیصه مِ بیا شروع دوبار کړه
ورله کړمه دَ جوړولو انتظام
عامرؒ وائی چه ځلمے مِ کورته بوتلو
لیکن دے زما زړګے ډیر بے آرام
دے شروع شولو په کارزهٔ درته پټ شوم
شروع اوکړله په کار دغه نیکنام

ورتــه ګــورمــه چــه دے ختــه راواخلی
پــه دیــوال بــانـدے ئے اولګیٔ ګلفـام
لیــکــن ګتہے بــه دَ ځـانــه ورلــه راغلــے
پــه دیــوال بـــانـدے بــه پریـوتــے تـمــام
پس یقیـن پرے زما اوشۀ چه بزرګ دے
دے نِـزدے درکبنــے دَ پاك رب ذوالاکـرام
دَ بــزرګ ســره دَ غیبـــه مـددکیـــږی
هـغــه شــان کــارشـوختـم دَ مــابنـام
مــادرهـم ورلـــه درے ورکــړۀ پــه شمـــار
خپـــل حـــق واخستـــولاړو د لارام
پــه دریٔمــه هفتــه لاړم هـغــه ځـائے تـه
مــاپـــه خـلـقــوبــانـدے واچـوۀ سلام
هــلك نشتـــه مـاتپـوس خـلقـونــه اوکړو
چـه نـن څۀ شـو هغه سړے شونډے بادام
یــوسـړی راتـــه پــه دے قسـم لـــه اووے
دریٔمــه ورځ ده چــه بیمــار دے ګـل اندام

یو مزدورم کړو راضی پیسے م ورکړے
چه به مابوځے دَ ځوان ترخپل مقام
لنډه داشه ئے مقام کښے ورداخل کړم
بے هوش پروت وو ورته اوم کړلو فام
دَخپل سرلاندے ئے ایښے وه یوه خښته
زرم غیږ کښے اونیوو دغه ګلفام
سرئے لړے کړو زما دِ غیږے زر
راته اؤوے دے ځلمی په احترام
چه اے دوسته په دنیامه دهوکه کیږه
نعمتونه د دنیا به شی تمام
چه دَبل جنازه واخلے قبرستان ته
خپل مرګ هم دِ یادوه ځان ته مدام
هیڅ عامرؔ ته پته نشته ظفِرګله
چه نمسے دے دنبی علیه السلام

(شپږم پړك) نظم

نمسے د پیغمبرؐ دے

په لویه تبه مبتلا اوس جلوه ګر دے ، نمسے دَ
سرئے په خښته باندے پروت دے،نمسے دَ
دے په اولاد کښے دَعباس جرار بهادر دے ، الخ
ځی ئے دمخ نه رنړاګانے ، نمسے دَ
مخ نورانی ئے په مثال لکه قمر دے ، الخ
دے په اولاد کښے دَ عباسؓ ، نمسے دَ
په سوی نمر شهزاده پروت ګلِ صدبر دے ، الخ
پروت دے په سوی نمر نامدار ، نمسے دَ
چه څۀ کوی په هغے واړه رب خبر دے ، الخ
ابوعامرؓ ورته ژړیږی ، نمسے دَ
په لوئے سفر باندے روان لختِ جګر دے ، الخ
رب دِ داخل کړی په جنت کښے ، نمسے دَ
ګران په اکبر دے دِظفرګل د زړګی سر دے ، الخ
نمسے دَ پیغمبرؐ دے
(اووم پړك)
سامعانو شروع کوم دوبار خبره

شنے لمبے مې ځی دَ خوړ زړګی دَسره
عامرؓ بیا وائی قیصه په ډیرافسوس
دوباره راته ځوان اووے چه عامرؓه
چه مې روح لاړ شی دَ تن نه کم ساعت
دا خبره هیره نکړے دلاوره
اے صاحبه په خپل لاس به غسل راکړے
په جامو خپلو کښے ښخ مې کړه دلبره
اے عامرؓه دا لوټه او دا لونګئ مې
قبر کندوله به ورکړے بختوره
مزدوری به قبرکندوله دا ورکړے
پس دَ هغے مې بیا ښخ کړه ناموره
بیا به دا قرآن شریف او ګوته واخلے
تر بغداده به دا یوسے بهادره
دَ بغدادباداشاه له دا ښے به ورکړے
ورته وایه چه دا واخله معتبره
وصیت مې دغه اوو چه مې بیان کړو

وصیت به مې پوره کړے زرتر زره
پام کوه چه هیر دِ نهٔ شی دا ګفتار
دائے اووے ساه ترے اوختله بره
عامرؔ وائی په خپل لاس مې غسل ورکړو
بیا دفن مې په خپل لاس کړو نیاز پروره
چه څو ورځے شولے تیرے راته یاد شو
دَ بصرے نه شوم بغداد ته په سفره
چه دَ شعر سمندر کښے شوے ورګډ
ظفِر ګله اوس راوباسه دُرّ ګوهره

(مِصرعے)

خزان چه راشی ګلان رژی
خدائے دِ دَچا په کور خزان نه راولینه
خزان چه راشی بلبل ژاړی
څکه عامرؔ په شهزاده ژړا کوینه
ژړا به ولے پسے نکړی
دَ زړهٔ طوطی ئے ورپسے کړی فریادونه

دَ زړهٔ طـــوطـــی دَ عـــامـــرؒ ژاړی
دَ شهـزاده تیـرشـوے وخت رایاده ویـنـه
پـــه شهــزاده خـــاورے انبـــار شـوے
غـنـی الله دے ورلـــه ورکـړی جـنتونـه

(اتم پړك)

روای وائـی عــامـرؒ سـرشـو پـه مـنـزل
دَ بـغـداد ښارتــه بــه ځان رسـوی خپـل
څوشپے ورځے ئے منزل اوکړو په لارے
آخـــرداده چـــه بــغــداد کښــے داخــل
دَ لښـکـرسـره بـادشاه پـه چـکـربـانـدے
وو راوتــــے شـــو دَده ســـره واصــــل
عـامـرؒ زړهٔ کښے وائی دا هغه بادشاه دے
کـوم چــه مـــاتــه شهـزاده وئیـلـی وو اوّل
عـــامـــرؒ اوکـړلـو بـــادشـــاه وتـــه سلام
پـــس دَ هـغــے ورتــــه داســـے اووئیــل
اے صـــاحبـــه تـــاســره مِ دے پـــټ راز

بادشاه وے رازه چه لاړ شو تر محل
پس دَ هغے به مِ پوئے کړے په احوال
خدائے دِ تاکاندی خوشحاله یو په سل
ابو عامرؓ ورسره لاړو تر محله
چه داخل شو شاه ځائے سازکړۀ دَ بخمل
دواړه کیناسته یو ځائے غاړه په غاړه
دَ عامرؓ او بادشاه جوړ شولو محفل
بادشاه اووے راته صاف اووایه حال
خدمت وایه راغلے دلته په څۀ چل
راته اووےه احوال دَ زړۀ په مینه
چه مِ لرے دَ زړګی نۀ شی غوبل
عامرؓ وئیلے بادشاه غوړ اونیسه ماته
چه خبر دے په بیان کړم مکمل
دغه نخے یو هلك ماله راکړے
شمس قمر ورته خائست کښے وو خجل
په بصره کښے شو وفات دَ سترګو تور

وصیــــت وو راتـــــه کــړے هـغـــه ګـل

وے چــه لاړبـه شـے بغـداد تـه زما روره

پـه بغـداد کښـے دے بـادشـاه لکـه بلبل

دغـه نښـے بـه هـغـے بادشاه لـه ورکړے

وصیــــت مِ درتـــــه اوکـــړو مسـلسـل

یــو ده ګـوتــه او یــود ے قــرآن مـجـیـد

دغـــه نښـــے دی راکـــړی هـغـــه جـل

سـامعـانـو کـلـے دے نهـزارخوانئ مے

تـــخـلــص م خــادم نــوم مِ ظـفِـرګـل

(نهم پړك)

دَ راوی نـــه پــــه دا شـــان دے روایـــت

مسـلـمــانــه دا قـیـصـــه دَ عبــرت

عــامرؓ دواړه نـخـے ورکـړلے بـادشـاه تــه

بــادشــاه ډیـر پــه مینـه دے تـه شو اوچت

بیـــابــادشـــاه ورتــه وئیـل چـه نـازنیـنـه

راتـــــه اووایــــه کـل واړه حــقـیــقــت

راته وایه دے ځلمی کولوکارځۀ
خبردارمِ کړه دَ حاله دا ساعت
عامرؓ وئیل چه کار دَختهوبه ئے کولو
مزدوری به دغه کړله خوبصورت
چه عامرؓ ورته دارنګے اُووے حال
بیابادشاه عامرته اووے په عزت
بیا بادشاه وئیلے اے عامره روره واوره
تاخوکارپرے کړے نه دے نیك سیرت
عامرؓ وئیل ماپرے دوه ورځے کړے کار دے
په پنځمه ورځ ئے اوکړلو رحلت
بیا بادشاه په ژړا اووئیل عامرؓ ته
اے کم عقله خبر نه ئے په سرعت
اے عامرؓ خبر دومره نۀ وے روره
دے فرزند زما نمسے دے دَحضرتؐ
راته اووایه لمبولے روره چادے
چه مِ لرے دَ زړګی نه شی زحمت

عـامرؓ وے چـه مـا لمبولـے دے صاحبه
هـغـه نـمـر دَ څلورم آسمـان اوچـت
مـلـغـلـرے دوړه وه اے خـادمـه
ظـفِـرګـلـه شـه پـه لاس دِ بـرکـت

(لسم پړك)

راوی کړے پـه دے شان دے قیل وقال
دَ اول نـه تـر آخـره وائـی حـال
چـه عـامـرؓاوکـړے بادشاه تـه دا خبرے
بـادشـاه زر دَ دۀ لاس اونـووفـلـحـال
زرئـے ښکل کړو بیا سینه باندے ئے کیښود
بـادشـاه ډیـرپـه خپـل زړګی شولو مـلال
بـادشـاه شـعـر اووئیلـو دا ئے تـرجـمـه ده
خـدایـه څـۀ شـولـو زمـا د سترګو لال
خـدایـه څۀ شولـو زما هـغـه نیازبیـن
چـه مِ زړۀ وریـسے دے حـلال حـلال
خـدایـه څـۀ شـولـوزمـا دَ رنځ طبیب

چــــه دُورا یـــه ځـلیـدو لـکـــه مشـــال
خدایـه څـهٔ شولـو هغـه غـنچـه دَ ګـل
چـــه ارمـان بـه ئـے کـومـه کال پـه کال
دا فـــریــاد بــادشــاه پــه زوره باندے اوکړو
رود دَ اوښـکـو ئـے راتـلـو پــه سپین جمـال
چـه سپـوږمـئ دَ څـوارلسمـے ترے نه لاره
بـادشـاه وے بـــه فــریاد نــه کـړی مـجال
دائـــے اووئـیـلـــے بــصـرے تــه شـوروان
د؟ بــغــداد نـــه لاړ بــصـرے تـه بـاکـمـال
یـــو عـــامـــرؓ وو ورســـره دویـم لښـکـر وو
خـدائـے خبر دے چـه خفه ووکه خوشحال
لــنډه دا وه چـــه بـصـرے تــه ورغـلـل دوئ
شـــو پـــه قبـر ئـے بادشاه ډیر بـے مـجال
اے خـادمـه ظـفِـرګـلـه رب تـه سوال کـړه
کـه قبـول دے کـړی سـوالـونـه ذوالجلال

(مِصُرعے)

بادشاه دَ ځوئ قبر له لاړو
په ځائے د اوښکو ورته وینے تویه وینه
سترګے ئے دواړه ځان له سرے کړے
چه ئے دَ ځوئ قبر به سترګو اولیدنه
بادشاه پرے پریوته دَ پاسه
دَ شهزاده په قبر شاه فریاد کوینه
ژړا به ولے ورپسے نه کړی
دَ زړګی سرئے تورو خاورو بندی کنه
دَ شهزاده په قبر ژاړی
دَ ځوئ په قبر باندے وائی دَ غم شعرونه
که ترجمه مِ درته اوکړه
اوس به دِ سپینے سپینے اوښکے په مخ ځینه
وائی د سترګو توره ځۀ شوے
چه دِ په قبر باندے کړنه فریادونه
دَ زړګی سره یو ځل راشه

چه مِ دَ خوږ زړګی نه لرې شی غمونه
یو ځلې مخ راته ښکاره کړه
ستا د دیدن پسې مِ زړه دَ غمه چوینه
دَ تقدیر لیك بدلیدے نۀ شی
تقدیر تدبیر پورے مدام خنده کوینه
تۀ دَ سپوږمئ یوه ټکره وے
ځکه زړګے مِ درپسے کوی دردونه
زړۀ به مِ څنګه په قرار شی
چه ستا فراق راته په مخکښے مخکښے وینه
تا غریبی خپله کَوَله
اوس دِ نصیب شه دفردوس دَ باغ ګلونه
ما په الله بانده سپارلے
که په قیامت مو رب نصیب کړی دیدنونه
دَ زړګی سره زړۀ مِ ډك دے
داستا په قبر به ئے زۀ روق رو تشؤنه
اے ظفِر ګل خادمه بس که

تادِعاشقونو زړۀ کښے ښخ کړل خنجرونه

(یوولسم پړک)

دَعاشقونوزړۀ به غوخ شی په خنجر
که قیصه ئے واوریدله تر آخر
راوی وائی شهزاده ته ژړیدلو
دَ پلار اوښکے ئے راتلے په سپین بشر
دِ فراق ژړا ئے کړله په دۀ باندے
وئیلے ځویه وے راغلے مسافر
مسافره واپس رانغلے ما پورے
درپسے مِ دے زړګے پرهر پرهر
ټول مجلس ورسره یو رنګ ژړیدلو
شهزاده ئے یادیدو ګُل دَ صدبر
لنډه دا چه پلار ئے سترے په ژړا شو
شو بیهوشه پریوتو په لختِ ځګر
چه په خود شورو روان شولو واپس
دَ زړګی نه ئے یادیدو پاك الله خبر

پـه افسـوس افسـوس واپـس لاړو بغداد تـه
خلـقــه واؤړئ ځـوئ وی ډیـرګـران پـه بِدر
دے خــو پـریـږده چــه مـدام ورپسـے ژاړی
راوی بیــا ورځــی بــصــرے تـــه پــه هـنـر
بیــاعــامـرؒ چــه پــس اوده شـو عبادت نــه
خــوب کـښـے ئـے اولیـدو هـغـه بـختـور
عــامــرؒ وائــی مـاتــرے اوکـړلـه پـوښتـنــه
چــه لـــه تــاسـره ځــۀ کـار اوکـړو اکسـر
عـامرؒ وائی ماته ئے اووے په جواب کښے
چـــه قسـم کـوی خـــالـق دَ بــحـروبــر
چـــه دَ ده پشـــانـــے چــا عبــادت اوکــړو
بیـــاپـــه سـتــرګـو بـــه اونـــۀ وینی سقـر
هـم دَ ده پــه شــان مـقـام بـه ورحـاصل شی
چــه دَ دۀ غـونـده کـښـے ځان کړی مسـافر
چــه عــامـرؒ دغــه حـالات ځـۀ وختـے اولید
راوچـــت شـــولـــو دَ خـــوبـــــه دلاور

هغه دم په عبادت دَ الله سرشو
دَ هلك وينا پرے اوکړلو اثر
دَ دنيا غمونه ئے شاته کړه ګزار
عبادت به ئے کوو شام وسحر
خدائے دِ دغه رنګے خلق راپيدا کړی
دا دنيا به شی آباده زر تر زر
سامعانو دا قيصه شوه دلته ختم
کهٔ غلطی وی ورکښے شوے لروبر
يا وی پاتے يا زياتے وی رانه شوے
معافی غواړمه په دوئ دَ پيغمبرؐ
نوم لرم يمه ظفر ګل خادم
دے مقام هزارخوانئ م اصلی در

For More Books Click
On Ghulam Safdar
Muhammadi Saifi